

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان «خادم»
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنی له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهی گلونه

مؤلف

قیام الدین « خادم »

دپښتو ټولنی ددائرةالمعارف دترجمې دڅانگې مدیر

۱۳۲۵

دکابل

عمومی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

دبهار گـلونه شويدى كه نه دى ؟ بلبلان پسى ناري وهى رحمانه !

«رحمان»

* * *

په بلبلو زيرى وكړه : بيا بهاردى دسوندك موندك سپلى اخرى كيبږي

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبــلــبل يا دبو را زده

«خوشحال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ:

# روهي ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړېدلی
ستړګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلي خادم په زيار راغونډ شوي دي او د پښتو ادب مينانو ته د سوغات په توګه وړاندې کېږي، هغه ګلونه دي چه پښتنو د پخوانيو شاعرانو د زړه په وينو روزلي شوي دي.

ښه ګه چه تراوسه پورې د پښتو ژبې په ادبياتو کښې داسې يو جامع منتخبات نه و، او ښاغلي خادم (چه د پښتو يو پياوړی اديب دی) په دې کارګوټي پورې کړی او بريالی شوی دی، نو پښتو ټولنه داخپله وظيفه ګڼي چه د دې فاضل دا دستايلو وړ خدمت وستايي او په دې انتخاب ده ته تبريك ووايي او هم په دې ګلونو سره د هغو پردېسانو روح ښاد اوياد کړي چه دوی به د خوازه وطن په بېلتون کښې ويل:

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوي منت ئې تم دی

او له خدايه غواړي چه داسې ډېر آثار پښتنو ته وړاندې کړي.

(عبد الرؤف «بېنوا»)
د پښتو ټولنې عمومي مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا د رنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چانه په مخکښې ږدم چه تر هر چا او تر څه دروه په ګلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو جواهر وی　　　　دادب دخاوندانو ؛ دزړه وینی

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

د لوی څښتن حمد او ثنا وایو ، او درود په هغه استاځی چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل اولادئی ، درود لېږو او د دې شکر کوو چه په لږه موده کښې مونږ د خپل ملت (پښتو او پښتو نولی) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصاً د ګران ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندی هم په دې کښې ده »
خومره چه کېدی شوه د هغې نه ډېر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار و لیکل ؛ چه لږ له دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپېږی او د ذوق خاوندانو ته به وړاندې کېږی .

یو له دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب د ډېرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږی . دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډېر زحمت سره مې ترې دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو د یوې ، انتخاباتو ته هم نه ده ورته .

او دا له دې کبله چه د پښتو شعر او ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . ما د هغه روح او د هغه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسې مې د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا مې دا کتاب لیکلی دی د دې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه د تهجی تورو یا د ردیف او قافیې په لحاظ نه دی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ور کړی شوی دی ، نو هر څومره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او د ادب او شعر د نزاکتو او شاهکاریو څخه ډکه ده ؛ هغومره د ژوند او زندګی د اسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونو ویشل شویدی چه په هر باب کښې فصلونه دی ؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او د هر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای ونیسی ؛ او په درنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تنند وز سازی - قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لويه خدايه ، لويه خدايه ! ستا په مينه په هر ځايه
غر ولاړ دي درناوی کښې ټوله ژوی په ځارې کښې
د لته دی د غرو لمنې زموږ کېږدی دی پکښې پلنې
داو ګړی ډېر کړی خدايه !
لويه خدايه ، لويه خدايه !

دلته لنډ زموږ اور بل دی وړه کور ګی دی، وړه بورجل دی
مينه ستا کښې مونږ مېشته يو د بل ڇا په مله تله نه يو
هسك او ځمکه نغښته ستا ده د مهر و وده له تاده
دا ډېر لنه ستا ده خدايه !
لويه خدايه ، لويه خدايه !

« بېت بابا »

❀ ❀ ❀

پر لويو غرو هم په دښتو کښې په لوی سهار په نیمو شپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې یاد وير ژ ليو په شپېلو کښې
ټول ستا دياد ناري سوري دی!
دستا د مينې ننداري دی !

جنډی زرغون که په بېديا دی د بر ښه خواته په خندا دی
ترنك چه خردی په ژړا دی دا ټول اغېز د مينې ستا دی
ټوله ښکلی دی ستا له لاسه
ای ډېرا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ يې سپين دی يا دسپوږمۍ تندی ورين دی
که غر دی ښکلی پرتمين دی لکه هنداره مخ يې سپين دی
ستا دښکلا د ا پلو شه ده
دا يې يو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسك آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : ګل . ترنك : ديورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږی     دژوند وږمې پکښې چلېږی
بوراوې شا وخوا ګرځېږی     سترګې لیدو ته یې هېښېږی
لویه خاوندهٔ دا ټوله ته یې
تل دنړی په ښکلېدو یې

خاونده! ښکلی ستا جمال دی     ښکاره یې لوریه‌لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړی کال دی     ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه رڼا ده
دلته چه جوړه تما شا ده

زړه مې د استا دمینې کوردی     سوی دعشق په‌سوځندا وردی
رب یې وتاته په هر لوردی     بیله‌دې هېڅ‌دی‌ورک یې پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه‌وی‌دغه نور بر باد دی

په‌غرو کښې‌ستادعشق‌شپېلکی‌دی     ددې نړی په عشق سمی دی
که‌غټ که ووړ که‌ښځه‌نری‌دی     ستا د جمال ځری هر شی دی
چه‌پر دنیا مې‌سترګی‌پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسک‌نه مځکه وه‌تورتم‌ؤ     تیا ره خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نی آدم ؤ     ستا د جمال سو چه پر تم ؤ
چه‌شوښکاره ښکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یې رڼا شوه

زه‌چه‌خبر ګند پردې‌دنیاشوم     د ښکلی مخ په تما شا شوم
ستا پرجمال باندی شیداشوم     له خپلی ستې را جلا شوم
په ژړا ژړام چه بېلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وګرېو ، ولې «متی» ژاړی     سوري یې اوری‌غاړې غاړی
څه‌غواړی،څه‌وایی، څه‌باړی     خپل‌تون‌او کورو کلی غواړی
چونهٔ چه بېل شی‌نیمه خواشی
تل یې دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هېښ : حیران ۰تون : ځای ۰ چونهٔ : بلبل ۰ بڼ: باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دې عیش کاندی پر گلو
که مې نزموی به ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مې نوی سر کوزی چاته بې ښکلیو
اضطراب د حرص مې کړې له زړه گی لرې
که مې نه فاشوې سرزید و عمر ته
څو به گورم د قیامت و ورڅو شپو ته

چه خپل برگ به آب د چرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتاب ولی
چه کباب یې په گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل یې و دیدن ته انتظار کا
که مې نه محتاجوې د صبا باد ته
سرخرو یې زما نصیب لکه لاله کړه

په اوښو کښې یې د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود یې مخکې سردی لگولی

الله مې رب دی زه یې مربوب یم
غرق یم په اوښو کښې کله اوبه وینی

د ده په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد د منکر تر سره پر بوځی
چه کشور د افغانانو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له برکته

په داور کښې دستی(۱) سمند رسا زرا
پروانه لره په اور زما گداز را
می د عیش په میخانه کښې د مجاز را
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
له دولت د عشقه هسی کبرو ناز را
قناعت قوی لنگر دد ې جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښې د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحر پشان درست عمرسپین دامان را
د لاله غوندی په جام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا»

تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د توری زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی داغ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی پکښې اورلره مکان دی
هم یې زوړند په رکوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب نا خوب یم
نعمت یې نه وینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر ختک»

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال ختک»

د شبنم په څېر یې عمر بوزمان کړې !
د فلك په څېر مې توره د زبان کړې !
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړې !
دا : ساده انشار نگینه د رحمان کړې !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرو نسخو کښې د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خو موږ ته یې په معنی نیوهیږو «خادم»

روغی گلونه (۵۲۵) ب سردار محمد : ج سراج الدین : ر محمد امین : ن محمد نعیم : ۸ اجراتیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ – ۸ – ۳۲۰ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي د مينې در درا
گرم د ل آهو نه سر درا
خلاص کړه ما له بې دردې
له دې هسې د لسر دی
زړه په شان د غنچې راکړه
آتشی ز ما مینا کړه

«کاظم خان شیداء»

پر هر چا چه حق یاد نشي ناتمام دی
پر کاغذ اول دده بنا م قلم ژ ده

«دولت لوانی»

## ب : داستاځی په مینه

که رنا ده پیروی د محمد ده
گنې نشته په جهان بله رنا

«عبدالرحمن مهمند»

د ندي ستر گې چه دزده مې پرې بیناشوې
یم پیدین د محمد آخر زمان خوبن

«عبدالعظیم رانېزی»

توره تاریکی تو له لدې جهانه لاړه
نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ
چه مختاروخود یه ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته
شوم لکه ذره هسې په نمر سره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له دې جهانه لاړه
نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

په زرگونو انبیا تردنیا تېر شو
محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې پټ گرځم دا زیړرخسار له خلقو
لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی

راحت نه دی بې زحمته چا موندلی
کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی

زه هرگوره خیل صنم پورې شرمیږم
برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی

وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی
داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د سرښندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سري بيدار کاندي له خوبه

دا په عشق کښي سهل کار دي دشوار نه دی
کم انديشه که بيدار دی بيدار نه دی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کار دي د سروشو نه و شيريني وي
درحمان په عاشقي کښي سر کښېږدي و شوي

د خپل ځان په وينو سور لکه انار شه
ځوک چه وايي عاشق ږوند دي هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصيته منزه دی

کار د ستر گو به ځوک څرنګ په دهان کا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت د يار په مينه کښي رب کېښود
د باران نه دی چه اوري له آسمانه

چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د مرغانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړ شي

چه د يار له داغه آه کا هغه گرم دی
«خوشحال ختك»

زه تر عشق جار ښېږم : تر هغو چه عاشقان دی
رايشي له کومه ځای په ځوو کا په زړه کښي
هی دخدای د پاره تفحص راپسی مکړه

واړه عشق يکار دی حقيقت دی که مجاز دی
هيڅ پرې نه پوهېږم عشق يو څه سوز و گداز دی
پلار ته وايه نشي عشق يو هسی مخفي راز دی
« خوشحال ختك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښي لری غلا
« خوشحال ختك »

ځيني هوس کامينه په باغ لري
داد واړه گروهه بوالهوسان دی

خوك مي پر سته حب دا باغ لري
عاشقان مينه د زړه په داغ لري
« عبدالقادر ختك »

ليوني غوندی دعشق په کارو بار کښي

د خپل ځان په سودو زيان نه يم هرگز
« عبدالحميد مهمند »

که هر څومي تند تېزه توسن دعقل

عاقبت شو په دنبال د مينی پاتی
« ميا نعيم متي زی »

دعشق يو سبق کافي دی

نور د درست جهان دفتر هيڅ
« صدرخان ختك »

عاشق گرم او شوقی وی
چه دعشق په لاره درومی

زاهد سوړ بی حميته
خالي نه دی له تهمته
« دولت لوانی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خام خاطر مي مشوش و پههجران کښي — چه تمام دعشق په اور وسو متين شو

«دولت لوانی»

معرفت ځني پيدا شو — عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چهپه عشق با ندي شيدا شو — دعرب په مينه گوره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی — ودرياب تهځی که سيل له هر جا پاڅی

«مرزا حنان»

په هرداغ مې دخپل زړه هسې باوردی — چهپه مرگ به راته شمع شيپه گور کښ

«عبدالحميد مهمند»

کهشهيد نکړی خيل ځان دعشق په توره — نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

«عبدالعظيم رانيزی»

دسيماب پهشان په لاس کښي نيوی نه شم — عشق را هسی گرم هم نرم هم لطيف

آئينی غو ندی هر ولی هر ناولی — شی مهمان ځما په کور کښي بی تکليف

«شمس الدين کاکړ»

هر يو زړه چهشی پيدا غه پکار نه دی — چه بی مهره شی برات هغه باطل دی

«مرزا حنان»

ته دعشق په لذتو نو خبرنه شوي — په سراب دځان مشغول کړ، له دريابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کيږی — کله کيږی په لښکرو په افواج

«خوا جه محمد بنگښ»

جريده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بي عشقه

بی رفيقه، بی پناه ځم، پناه نهلرم بی عشقه

هرساعت چه بيلتون ياد کړم په خپردادو فرياد کړم

څکړم چاو ته فرياد کړم، نيکخواه نه لرم بی عشقه

مدام غوښي د زړه خورمه، دزړه وينې بهتل څښمه

څکړم څکړم چرتهځمه، همراه نه لرم بی عشقه

معتقد يدا خيل رزق يم، مبرا پهزړه له فسق يم

واړه سرتر پا په عشق يم، يو گاه نه لرم بی عشقه

دافقير دولت نفی يم، و گناه ته هوسی هم

خدای مي بيامرزه عاصی يم، گناه نهلرم بي عشقه

«دولت لوانی»

عشق دی دا که يوفساد دی نه پوهيږم — په جهان کښي چه د اشورو شرپيداشه

بيا به روغ دعاشقی له رنځه نشی — په هر تن کښي چه د غه اثر پيدا شه

«عبدالرحمان مهمند»

باد شاهانو که قصرو نه کړه آباد  ماد عشق عمارتونه کړه آ باد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسی یادېږی  لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسی پیر استاددی  چه به نه دی بل دا هسی پیر استا د
دغه واړه کرامت د عاشقی د ی  چه څوك غوث كاندی، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شراب له عشقه  نه ا نګو ر (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی  چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کل ستر ګی په نم کښې  عشق را او بود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم  خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
د ښنګ او د بلبل ترمینځ حیران یم  مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسی رنګ مقام باندی قائم کړم  چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهېږم
د رحمان څهره یی زیړه زعفرانی کړه  خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم
« عبدالرحمان مهمند »

خودخر ګندوی لکه صبح په جهان کښې  هر ګړ وان چه په یاری کښې دریده شی
بی مطلوبه یی هیڅ فهم په چا نه وی  هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی  هر کلام چه له رحما نه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر او مال مې شو تالا په تور د عشق  لا مې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه  یو هېڅ لی په تدبیر وم د د بیر کېج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې  د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کېج
راهبران دعقل واړه رهزنا ن د ی  لنډ د عشق له لاری مه بیا په بهر کېج
« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه  مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی نا صحه ا  دا عبث دی پول د سحر په دریا ږدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تد بیر چلاوه نشی  په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی،   د جمله ؤ مخلوقا تو پلا ر دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته   تر همه کارو نو غوره کار دی دا

« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی   یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سرومال په‌عاشقی کښېږي   عاشقی دا هسی کله ده و یریا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو   نظر نه کاندی په کسب د کیمیا

« عبدالرحمان مهمند »

بې‌دردان دعشق له دردده خبر نه شول   براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم

« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که اور دی دا   په اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی   واقعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یی زه له بله غمه په امان کرم   دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه‌می‌ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې   لېونی د مجنون کشر و رور دی دا

« عبدالحمید مهمند »

باد ښکلیو دپا ولیو شرنګها ر دی   یا د عشق د لېونیو د ز نځیر

« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په‌لاره گران‌دی   دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك

« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی رهبر پیر کامل دی   عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا

« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زده په‌عشق کښې‌نشته سرله سره   خوب محال په هغه ځکه چه توده شی

« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی بانديې شوی   هغه زړونه گویا کانی د بیدیا دی

« ملا جمعه »

# غزلیات

که خوك یار په جهان غواړې یار دی دا  —  یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز افوېې زما لـه زړه چا پـېـر شو  —  که تر ګنجه چا پـېر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدا ی له عشقه پـیدا کړی  —  د جملو ؤ مخلو قا تـو پـلا ر دی دا
تر عشق غـو ره بل څه کار په دنیا نشته  —  تر همه کا رونو غـو ره کـار دی دا
بل بـلبـل بـه د ګـل نـوم ا خستـی نـه ؤ  —  که خبروی چه ګـل نه دی خار دی دا
بیـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه  —  بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي وګـو ري چـه څـه دی  —  که خوك شمار کاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره  —  ستا په عشق کښي هسی خوار زاردی دا

« عبد الرحمن مهمند »

چـه یـې و لیـد و ستـا حسـن بـېـحسا ب  —  له دي قصد ه تـاو پیدا شو د آفتاب
په آرزو یي دنر ګس ستر ګی غلور شو ي  —  غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب
ستاپه غم می دواړه ستر ګي سري ناغي شوي  —  که خیمی دی سیاه پوشي سره طناب
که دي زلفي په مخ پیچ وتاب شوي شايي  —  وبښته څه طـا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ویـښ شی  —  که ستر ګي ورته بورته کړي له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

کـه ساقی تـلخـه با ده دریا ی شور کا  —  د فلـك په جام به مست کله مخمور کا
آرا ستـه وی تل محـفل د خنـد ه ر و یـو  —  زمانه به د ګـل جام څر نګه نسکور کا
چه په لاس کښي یې تل چوب لـکه شانه وی  —  بی افسونه به نیو ل د تور منګور کا
د لتنګی کـړم لـکـه ګـل بـه خنـدا ور کـه  —  که می بل دصبا باد په خونه اور کا
چه په سر یې سبز آسمان زری دستار زدی  —  عا قبت یې لـکه شمع بیـا سر تور کا
لـکه ګـل کـړی ګـران بـار تـر دا منـښی  —  باد دي څه لـکه غبار په کتف سور کا

« کـاظم خان شیدا»

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کـا  —  په ژړا به ستر ګي سري د ګـلو باغ کـا
د حباب غوند ي مي ډك په آه سرد کړ  —  څوك زما په ګور به بل څر نګ چراغ کـا
افرو ختـه یې و ی محـفل پـه شان دشمـع  —  چه سوخته دبل په کـار کښي خپل دماغ کـا
د ګر دش نـو بت یې هیـڅ په ما د ا نشی  —  که سا قی د ز ماني ، فلك ا یاغ کـا
ز نګـه که هر کـله «شیدا» دتیغ جوهر خوری  —  دمګس په بال به څرنګ استفراغ کـا

« کـاظم خان شیدا»

چـه می ولیـد ه ا بـرو پـه مخ دیار کـج  —  له تعظیمه ور ته زه شوم په تـلوار کج
کنږي ورو ځي کوږ با نه کنږي یې ز لفی  —  منا سب دی له کنږو سره رفتـار کـج
مار په دا سبب مـدام کـعږ فتـا ری کـا  —  چه یې ولید ه دا ستا د زلفو مار کج

هسې ژړا خلې اثر له همنشینه
په سبب د کنځې ښې شي‌سم بازار کیږ
چه معمارې اول خښته کږه کښېږدي
بیا ترسره پورې ځي هغه دیوار کیږ
ژړبه وا چوي یار دار چار پای په ځا کښې
که یې یو ځله څوک وځکوي مهار کیږ
هیڅ جواب د پیغام نه راځي دیاره
پسې زما شوه تورلیمه په انتظار کیږ
« شمس‌الدین کاکړ »

خوږ ژوندون راپورې هسې کړ هجران تریخ
لکه حال وي پربند پانود زندان تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد ودی
پرسبزه باندې نا وخته وي باران تریخ
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صېږم
پرموسم د ګل اوقات شي دباغبان تریخ
مې حرام دي په مجلس کښې چه یار نه دی
بې له ګله وبلبل ته شي بوستان تریخ
چه مې نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
لاتر اوسه مې په هغه دی دهان تریخ
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینې دی
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« مرزا حنان »

چه مې یار ولید په سینه د اغیار ګډ
له غیرته مې لیمه شوه په خو نبار ګډ
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی
خدای دنه کا مینګیر کټ په لاله زار ګډ
په امید د زلفو و نښتم په دام کښې
رو هیلې وم ساده دل په هندو یار ګډ
ددیدن په ګدائي کښې مې ننګ نه شی
د ر و یز ګریم د ښا نو په با زار ګډ
د وفا د ګلو بیا نسې پکښې نشته
کاشکې نه وي زه ددهر په ګلذار ګډ
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم
چه په کلي په کوځه شوم د خپل یار ګډ
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غی په مخ د ګلعذار
که غا لب شوه په کشمیر باندې کفار
سپین رخساري‌یې په تورخط کښې هسې پټ شو
لکه پټه چه معنی وي په اشعار
زما نه په بې سپین مخ دا هسې تور کا
چه غرض اری د بل په کا رو بار
هر کارسازن په خپل کار کښې درمانده دی
اوبه کله وداي شي ګرځ دخپل رخسار
« شمس‌الدین کاکړ »

او ښو د فراق دسترګو خواب را خښه یووړ
کور زما دصبر دې سیلاب را خښه یووړ
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه‌نې دیار لغمه
زړه مې په یوه نفس احباب را خښه یووړ
نه مې را برسېره کړ ګوهر دعشق له بحره
زیات یې لاآرام لکه حباب را خښه یووړ
تل چه‌یې هوس کاندې‌سره لاس وخونریزيءته
سرې د هغو سترګو قصاب‌را خښه یووړ
یوطرف ساقي شو بل طرف شو جام دمیو
عقل یې له میانه په شراب را خښه یووړ
وا چولم یار د جدائي په سره دیګ کښې
روح‌یې زما دځان لکه ګلاب را خښه یووړ
هیڅ یې نظرونه کړ زما و خاکساريءته
زړه مې سیا چشمو په شتاب را خښه یووړ
سینه‌خوله‌دیارچه‌په‌خواست‌زه‌شمس‌الدین‌غواړم
خواست دهرې ورځې دمخ آب را خښه یووړ
« شمس‌الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه ګوره چا یووړ — په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه دی شوبی ارامه — چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم — زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر ګو — سیلاب و د ژړا یووړ
خه بازار چه مې د زړه ؤ — حسن ستا حسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ — ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم — زړه بېوا که شهبا یووړ
قراری د زړه مې نشته — بېقرار ز لفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا — احمد غم دا شنا یووړ «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش — همې په سینه کښې ګویا مار ساتم همیش
زلفی دې سنبل مخ د ګلاب ستر ګې نرګس دی — زه باندې باغبان یم دا ګلزار ساتم همیش
داله ئلو ... نه چه پرقلب مې پېرزو نه شی — ځکه په ځیګر کښې ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر بېزی چه مجلس لره ور دروم — پس له دې به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس د رخسار چه دې زما په زړه کښې ګرزی — زه په خپل ځیګر کښې سورا نګار ساتم همیش
زړه مې ستا له غمه همېشه آه و فغان کا — زه په خپل وجود کښې دا بیمار ساتم همیش
ستر ګې مې څلور شی ستا پر خوا چه وعده و کړې — زه حنان له غیرو دا ستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښې — دایی غابښ په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې
همې رنګ سحر و جادو کا په نظر د شهلا ستر ګو — نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثانی په بنګاله کښې
لکه ونهلی مرغی په سست دام د سلو لومو — همې زه پر ښانو زلفو کښې یستم په کشاله کښې
دا زما له غمه شین زړه یکښې خیال د یار دلبو — همې رنګ زیب و زینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې
ما ویل عین ګټ ګل دی د غنچې په لمن لښتې — که مې کوت یو ګل اندام و یروت په سبزه دوشاله کښې
شکلی مخ کا ولې ناسته ، په مجلس د رقیبانو — په جوار د سپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله ؟
سر تر پایه تېغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم — ځکه یم مدام دا همې په فریادو په ناله کښې
که یار غوا دې هو مره ژاړه خو د رځی عبدالحمیده! — دایه دا چه درمونده شی په دریاب نه په ناله کښې
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دیوا نه او مجنون چا کړم — له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسې چارې خوک کا — لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومې ستر ګې کوم بانړه کومه غمزه ده — دوب شهید غوندې په خاک او په خون چا کړم
توان توفیق چه د فتنو را څخه نه ؤ — په فتنې د تورو ستر ګو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم — چه دا همې رنګ زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه دیدار په دردو غم کښې ښاد مان یم — لکه ګل دبر ښانی په وخت خندان یم
ته زما و بېکسی ته نظر مه کړه — خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په مېوه یوړه — په ویرا نه ویرا نی کښې ابادان یم
یوه بېتره مې د صورت بی عشقه نه دی — خو کیدار په هر نفس د خپل کاروان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه
لکه لعل ودر یه غاړه د خو با ن یم

د کا ملي عقید ي له بر کته
دروهی یه غاړه ناست شاه جها ن یم

روښنانی مي یه طلب کښي شوه حاصله
شپه اوورځ لکه آفتاب یه لار روان یم

چه صفت د تو رو زلفو د اشنا کړ م
یلی ، سر یه لو یه لار د هندو ستان یم

بی مینه می هیڅ حا ل د صورت نشته
لکه بي مال ومتا عه تش د کان یم

دهوس بلبل ویسا را با ندي نه کا
دافلاس یه ګل بو تسی د خزان یم

دلبرانو ته خا ك تر تلی لا ندي
د دي نور جهان یه سر لکه اسمان یم

چه دیار یه دیدن سرو مال ښندمه
خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم

«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار یه درو غم کښی غرقاب خوښ یم
یه داوور کښي بیطاقته بیتاب خوښ یم

تر دایوچی ګفتګوی چه زه یی اورم
یه نغمه یه ترانه د رباب خوښ یم

چه دیار دخط وخال ښی یکښي وی
زوړ ند سر یه مطالعه د کتاب خوښ یم

د ریا تر نا قبو له عبا د ته
دساقی یه میو مست او خراب خوښ یم

چه نه علم نه تسبیح نه تلا وت وی
له دي هسي بیداری نه یه خواب خوښ یم

دطوبی دونی سوری مي خوښ نه دی
ستا دمخ یه لمبو سوی کباب خوښ یم

خاموشی که هر خو لو یه مرتبه ده
زه دیار سره یه سوال وخوب خوښ یم

دیار دېري غمخوری یم عاجز کړی
رحمان ځکه یه خوردن دشراب خوښ یم

«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم
هم یه دا ښو دبد انو تو ز لیمه یم

له هغو مي څه اندوه چه یه خوی اوردی
یه خپل خوی کښي سوړ اونرم تراوبه یم

چه وماته وزما عیب یښکښ را وړی
ددی هسی یا ر له خدا یه یه غو ښته یم

نور زما دی ، نار زما دنورو څه دی
دیتنګوغوندي مخ خیر دځان یه سوه یم

یه ایرو یي مخ سپیره شي چه نفاق کا
آینې غو ندي مخ سپینه تور یه زړه یم

چپري نه وی چه یه بل مخ وته ګوری
یه هجران کښي خوښ دستر ګو یه واته یم

له نور چا ګله ګله عبد القادر کړم
زه خوار کړی خپلو ستر ګویم خپل زړه یم

«عبدالقادر ختك»

مخ دي لکه نمر دي ورته ځیر کتلی نه شم
ځکه یي دمدحي تر عهدي وتلی نه شم

زړه یی راغلبیل کړ دهجران یه ناو کیو
راز یکښي دیار د محبت ساتلی نه شم

اوس مي یه معنو کښي ښه مین دستر ګو کسی
کسی به د خلقو یه ویـل ابستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

بې یې د زلفو درسی ختای نسه شم
زړه مې پرواز غواړي ولې الوتلی نه شم
«عبدالقادر ختک»

د خپل یار له مینې هسې دیوا نه یم
که بې آهه بې ناڅې بې زغه سوزم
د خال خیال یې ما ضعیف له کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرو لبو په زړه کښې

چه خبر نه یم په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ د مخ یې څه پروا نه یم
د مېږي په دود قانع په انځ دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

په جنت نه یم خوښ هرگز په درد یار مې قسم
زړه مې له نا وعده د وصل هرگز و نه لیده
پر وایه گل و په خار نه کړم د جنون له فیضه
که مې سرو لاړ شي ستا په مینه لا خوشحاله یم زه
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کښا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

خوښ یم په لذت د خوارۍ په اعتبار مې قسم
په ناامیدۍ د توري شپې د انتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ د استاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مېښکو ستا د زلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

زه چه مین د یار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړي دعفتی ترمیان کړي تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا د خپل اشنا ور کړي
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یار دی زما
که د وصال په هوا را شي یکشنبها دلبره

تماشه بې دیار له مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله تش د خولې خالي اقرار څه کوم
دا که مې قول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بې له ده د قند هار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د دربار څه کوم
« جمعه بارکزی »

سپین رخسار دي وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیگا تر منځ حیران یم
سپر یندي څوندي قي کړی کولې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دولته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره!
قلندر په کومه پوزه لاړ شي صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره!

تور کښا کل دي وای تور شپه د تم
نه پوهېږم چه عمل و کړم په کم
د هجران لاس مې و کاږی زړه وبم
اژ د هار را باندې گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ور ځې عذر دی کم
چه میرا یې همراه نه وی هوس کم
دا یو، لاړو، السلام علیکم
« قلندر »

مغنی گوتې په ځیر زدی په بم هم
ستا د عشق دغشی هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه رغېږی
تا چه مخ ور ته ښکاره کړو لېونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
د خوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

هم ساقي شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې اېښودای نشي مرهم هم
په ستا نو په زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځني نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

به لذت دې د سروشونډو کوثر هيڅ کړ
د يوه لاس نغاره دا سي آواز کا
که ناستې ديار کوی به خاورو مومې

د شبنم دانه که تخم شي د ګلو
چه يې نشته لکه ګل ښه رخسارونه
حال د سوي طالع څه بيان کړم چاته
معطل به عارضه د شام غريب دی
داسمان په شان يې تيز دغفتو تيغ کړ

يسرلی مې دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر اونم
لا مې غټوړ ته په ځير کتلي نه وو
لکه نهر پري پيکر هم پري رو وو
يوه ورځ به دا غم و شي علاجنا نه

بي له ياره راښکاره ژوندون ذبون شو
چه دعشق په مکتب ماد غږ داستان اوست
دقلم په دود به چا که سينه ټوټې کړم
دحسرت ګوتې به غاښ کړي طبيبانو

سور پېزوان ده سروشونډو هسي زيب کا
دسرو ټيك دشهزاده په جبين پروت دی
دواړه ليچي دي وښکلې مصري نوري
ستا له غمه به ځان زړه درحمان سوزي

پارسائي يې د پارسا له لاسه يووړه
چه مې کړې وه توبه له مې خواري
معجزه چه د احياده په دوه لب بی
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
راته پاتې دا يوه مسلماني وه
ماوې زه به دعشق راز لرم په زړه کښې
چه دزړه صبر ديار له سخه غوا دم
که دنورو هوښياري په عشق کښې پس وړه ی

د حيات اوبه لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټك »

زړه به سوړ په ديدن نشي د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبين دی د داغلو
که مې زړه په حلقه بند شو د کاکلو
صبح و شام ګرزي ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شيدا »

ما لا ګل بوی کړی نه و بهار تېر شو
په هيڅ رنګ په پېرته نه رازی وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تيز رو پري وار تېر شو
چه فلانی هم لکه ګردو غبار تېر شو
« عليخان خټك »

اشتياق مې د زړه مرګ وته افزون شو
هك حيران راته فرهاد دويم مجنون شو
د مرجان په طور وينې مې لړ ون شو
له قانون اوله شفی رنځ بېرون شو
« حمد »

لکه جيم په قلم ښکلي کاتبانو
شينکی خال دي محاصل په بند يوانو
در يوه بزم سر به پر ککړي د خوارانو
لکه شمعه په زيارت د شهيدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائي ئی د دانا له لاسه يووړه
په چشمانو يې زما له لاسه يووړه
لاس په لاس د مسيحا له لاسه يووړه
دا دعوی يې د هر چا له لاسه يووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه يووړه
دا خبره مې ژړا له لاسه يووړه
محبت مې دا دعا له لاسه يووړه
د خوشحال يې لا په خوا له لاسه يووړه
« خوشحال خټك »

ستا د زړه سختي مې سر تر پايه وليده — سنګ به سينه دوړ کړې ستا له هسې سخته دله
نوره دنيا نشته چه څه وه را ښخه خلقه — وار په وار مې وليده په دلبرو و ښند له
يار مې هغه وخت وي چه په شيبه په سره ناست وو — شمعې به ژړا کړه صراحي به خند به له
ګل چه شګفته شي عندليب باندې ناري کا — نشته يو ه ښکلې چه ي ي و بو لم بيد له
تل ګونه و هلي هر زمان ساده اهو نه — ما چه عاشقي کړه خود به ما به دا کېدله
سرې لمبې بې بلې د خوشحال خټك په زړه کړې — سور خت يې اغوستى په دا لارې تېر بدله
«خوشحال خټك»

مست يم مې پرست يم رندي کړمه کړمه کړمه — واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
نور شراب مې واڅه تور عالم وته بخښلي — لام و ئى مې محادلى يسې مرمه مرمه مرمه !
موړ به څښي نه شم زه د مېو مستسقي يم — تل که هسې د کې پيالي څښمه څښمه څښمه !
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم — زه چه په دا هسې لارې تلمه تلمه تلمه !
څه وايې وماته حال دڅوک په هجران کښې — نور خبر دار نه يم په زړه سومه سومه سومه !
خلق راته وايي رنګ دې بيا زيړ شو عاشق شوې — هيڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
دور د عاشق دادي چه په عشق کښې ملامت وي — ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال خټك»

توره چه تېر يېږي خو ګذاره اره کښه ! — زلفې چه ول ول شي خو خپل ياره لره کښه !
ولې راته وايې چه په ښکلو نظر مکړه — سترګې چه پيدا دي خو ديدار لره کښه .
شيخ دې نه ونسخ روزه کا زه به د کې پيالې اخلم — هر سړى پيدا دى خپل خپل کار لره کښه !
تا وې چه زما د خولې بوسه اخله دا روده — غواړم دا دارو د زړه پرهار لره کښه !
وينې مې د زړه خورې مګر نور څه لره نه دي — زړه زما پيدا دى تا خونخواره لره کښه !
څه ژړا فرياد کړې دښتې د تورو زلفو — نور تلې پخپله دي ښامار لره کښه !
خو د به ستا دمخه د ګياه غوندې خر کند شي — ګل دلاله را وړه خپل رخسار لره کښه !
مې شته چنګ وني شته د خپل يار سره خوشحاله ؟ — خپل بياض په لاس کښې ځه ګلزار لره کښه !
«خوشحال خټك»

لکه مخ زما د يار دى نمر خو هسې وى کښه ! — لکه زه په عشق کښې زېرېم زېړ خو هسې وى کښه !
د عالم د پرې خبرې اور به اوز تورې لښکر يې — زړه مې نه خوږيږي له ځايه غر خو هسې وى کښه !
بې د عشق له شور وشره چه هر ګز زما له سره — نه ځي نور څه هر څه د روم سر خو هسې وى کښه !
چه يې ريم عمل لا کا چه يې ورك کړې ځان پيدا کا — ورځ د شپه دا هسې کر کړه کر خو هسې وى کښه !
تاوې درومه او مې زبر کړه بل سبق له زړه ابر کړه — تل مې نه يې به خاطر کښې زبر خو هسې وى کښه !
وهغه ته مې سر کوز دى چه معلوم ورته رموز دي — په خبره نه پوهيږي خر خو هسې وي کښه !
چه آزاد مرى ورد ومي خپل مراد ور ځني مومي — په هيڅ ځاى نه دى تړلى ور خو هسې وى کښه !
په يوه زمان تر يارده ورشي راشي خو ګذاره — د خوشحال خاطر تېز پردى پر خو هسې وى کښه !
«خوشحال خټك»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا درومی
مګر ځان وسپاری خدای ته په امان شی
هغه یار به زه و ګرمی خواته غوادم
دلبران که هر څو ډېر دی په جهان کښې
چه هم قد لری هم زلفې هم سرې شونډې
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
که مجنون غوندې په عشق کښې څوک صادق شی
دا نایان به د رحمان په قال پوهېږی

دا متاع د زمانې په دکان نشته
ګنه بل خوا ته د هیچا امان نشته
چه یې هیچېر یې منزل او مکان نشته
زما یار غوندې د نېر په جهان نشته
دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته
دا ته کار د هر نااهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ستا به مخ کښې چه حساب دجمال نشته
ته د سرود مال وېره په ما مکړه
روښنائی می دچشمانو ستا دیدن دی
په جو یبار زما دستر ګو سروته یی
مخ دې بی له خط وخاله هسې زیب کا
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی

څو که مرا څخه د صبر مجال نشته
وېره ما څخه دسر او د مال نشته
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندی بل څه نهال نشته
چه یی هیڅ حاجت په خط وبه خال نشته
چه په زړه کښې یی نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ګنج وعقل زار شه دعاشق دخاځکی اوښې
تیغ دیار له لاسه په مری دعاشقانو
خدای لره به ورسم په سودا دیاره مخه
څه که زاهد زهد کا د یو جنت دپاره
ګوره د منصور هسې به دار نه شې رحمانه

نه خر وار دعقل سه د عشق یوه دانه
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
سر بښند لی نه شی په ور بل دجانانه
مکړه دا د عشق خبرې مې ستړند انه
«عبدالرحمن مهمند»

په ګلونو اواز ورو کړوه بلبله!
عقل وهوښ عزیز تر هر څه بښندل نه شی
خدای دې وکاچېرې چوخ بودې په بېهوشی
ومطرب ته مینا وایی وایه وایه!
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه

پر ښنا نه پېږی ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنګه ډېر ګران یې دمل جله!
قدم ورو ږده درابېلو په ګل ګله!
دا معنائی پیدا کېږی له قلقله!
څه قدرت لری چه وایې له دل دله!
«عبدالقادر خټک»

ونښته که اصیله وی که توره وی که چینه
شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نوري
خیال یی دزلفینو لکه مار ورباندی پروت دی
سل زخمه که وخوری توی به یو خاځکی پري نولحی
خرب به یی بدل په بیداری خوښی پری وپرشی
یار په هوادندی که دزړه مینه پیدا کړی!
څه عبدالقادره! په خوله مینه مینه وایی

کښلي شی له حورو چه پري ورشی د زړه مینه
مینه که نی ګوري چه تر هر څه ده شیرینه
نه پرېږدی و زړه ته بله مینه چه ور ځینه
هسی رنګه وچه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
مینه هسې څیز دی چه نه زړدې لري کوینه
خودي لاو-چاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټک»

چه له خپله اشنا نه لری گیله — له نور چا به په نور څه لری گیله
انګوری ترخه شراب ور اره بویه — میخواران له ګبینه لری گیله
چه بی تا یې غروم د بل و مخ ته — په دا خوی له ما ښه لری گیله
هیڅ ایستادي بکښې ونکړتري پرېوت — له تاو که یې مې زړه لری گیله
چه چارو مې ستا د در د خاورونکړه — ډېر زما له ما بیا ښه لری گیله
بد و بدو ته ښکار ېږی ښه و ښه ته — ښه له بد و بد له ښه لری گیله
ښه که سرۇ تری قربان عبدالقادر کړ — بیا تري والي یار له ده لری گیله
«عبدالقادر ختک»

ننداره لره راځی چه پسی څو نه — په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
ته به وایی مخ یې ګل د پیغمبر شی — چه یې د مه په مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د ګلو ګرځی — ځلمی ګل به پګړی ږدی په اوربل جونه
ځینی دوا ده زلفي د کی کا له ګلو — څوك په غاړه د ګلونو کا هارونه
زیړ او سره نمری اغوستی ګلرخانو — وایی سپېر و نې و نیو ل ګلونه
چه ګلو نه پولوی سند ري وایی — شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا — په هغه ځمکه چه کېږدی قدمونه
چه له سیله را روانه شی و کورته — ګل لمن بلبل یې پسی آستینونه
چه له هسې ننداره نه ځان وباسي — شیخه ورك دي شه پر خپه خلوتونه
ته لیدل د ښایسته ؤ پکښې نه وی — چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدی که لیده د روح خوراك دی — نفساني دي باندې نکا غرضونه
تېر شو وار عبدالقادره ! را به نشی — که ژړا کړي که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر ختك»

څه افسون دی په ما وکړ پریزاده — چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مې ډك له که سیند دی شعله بویه — که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
بېهانه ددي غرض مګر شانه کړي — ته یې لاس ورودي و زلفو ته شمشاده
چه اواز دې د تېښې په کهسار نشته — د شیرینې په طلب لاړي فرهاده
په اسباب کښې مې زړه بند په اسباب ندی — د چمن په قید سرو ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د ګلو کړه — که څه رحم په بلبل کوي صیاده
چه په هر منزل کښې سرخوری لکه شمع — د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی کله امساك د دولت کېږی — جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی — چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیاریم هیڅ حاجت د شراب نشته — اور د عشق مې زړه کباب کړ و هیڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مې وچ لرګی شو ، رګ مې تار دور باندې پرېوت — زیرو بم اواز تري خېژی هیڅ حاجت د رباب نشته
پر پرهار نمکپاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه — حال مې خود ورته معلوم دی ، هیڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نیم بسمل یم ، تپش کړم په ځمکه باندې — ځان مې ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال شهید»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمې غوږ پوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پسې تلم گله !

ترمستۍ یې لا لذت د خمار ډیر دی ‌‌ ‌ ‌ ستا د ستر گو مستې بیده ده ترمله
ښا ښته د زمانې د نیا پرست وی ‌ ‌ ‌ ‌ په کوخه کښې یې یل مه کښېږده بې پله
په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتېږی ‌ ‌ ‌ ‌ څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !
ساقی مې چه راکوی یې په قهقهه خانده ‌ ‌ ‌ ‌ زده کړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی ‌ ‌ ‌ ‌ او که نه وی خبرجدا نه وی له کله
په پریشانو اندیښنو خاطر پریشان شی ‌ ‌ ‌ ‌ جمعیت مومی خاطر له توکله !
چه ستا مخورنه حاضروی گل به گوری ‌ ‌ ‌ ‌ دهغه ستر گې دې دخدای نکا بې گله
د مجلس روښنائی ته یې ته دی استې ‌ ‌ ‌ ‌ کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه گله
دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره لدی پله

«عبدالقادر ختک»

سرو که لیده شی د چمن تازه تازه ‌ ‌ ‌ ‌ ستاحسن ترې وینم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمنو ‌ ‌ ‌ ‌ یا دواړه نافې دی دختن تازه تازه
گوره ستاله مینې زړه یې ټك دی وینې وینې ‌ ‌ ‌ ‌ رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع ‌ ‌ ‌ ‌ وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دیوانه وم ، دیوانه یم لا تراوسه ‌ ‌ ‌ ‌ له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه
له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم ‌ ‌ ‌ ‌ ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم ‌ ‌ ‌ ‌ ترخلو ښتو کالو تېرشوم بېگانه یم لا تراوسه
چه عشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم ‌ ‌ ‌ ‌ تور و ښته مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم ‌ ‌ ‌ ‌ عام وخاص مې وائه ولی نښانه یم لا تراوسه
تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم ‌ ‌ ‌ ‌ عذر نلرم له حکمه ، بی بهانه یم لا تراوسه
د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بی قیاسه ‌ ‌ ‌ ‌ څو بې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه
دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
په ازل مې شراب څښلی دیوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستاله لاسه زړه یاره سینه افگاره ‌ ‌ ‌ ‌ ته له مانه څه غواړې فلکه ستمگاره
ته یو موش گیرك بې لایق نه یې د گلو نو ‌ ‌ ‌ ‌ ولی بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !
یار دی له ما بېل کړ تا خو هېڅ ښادی و نکړه ‌ ‌ ‌ ‌ وایه څه دې وگټل رقیبه دل آزاره !
یو دې د هجران په تنا ره کښې لوغړن کړم ‌ ‌ ‌ ‌ بل دې د رقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو ګل یې خار شي په لمن زما څو څیرې
سیر د ګلو نو چه کوم یې له خپل یاره
نه چنه د وفا طمع کوي له سرو قنده
سروبه هیڅ لید اې نه وي میوه داره
غوڅ وي قلندر په تیغ د هجر کړی نیازه!
مه کوه میرا! نوره جفا درب دیاره!
« قلندر »

خوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پندونه
وایه بیفائدې زړې ابا سینه لره بندونه
زړه مې که نادان په لاس کښې ومات له که ښیښه شو
نه شي خوك ایښو دای وښیښوته پیوندونه
او ښې دبا نو په سر چه را شي نه درېږي
ندي چا بند کړی په ګیا سره سیندونه
نه شي خوك ساتلی سره بخرې په ګریوان کښې
ومې سول پاه سره د صبر درمندونه
نه دی چا موندلی ښاپېرې په دوشالو کښې
وا خله قلندره! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا یې په هر ګل باندي طواف کا
زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
د پتنګ په دود د ځان په سوز رضا یم
ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
همیشه د ګل په بوی زه شمس الدین ځم
په خپل یار پسې سراغ لرم له شوقه
میل نه کا را ته باز د یار د سترګو
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کاکړ»

ځونې له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
نه کړم په ګل مینه دخزان له غمه زه
خلق را ته وایې چه زحمت دې لاد وا دی
لابه چه یې خلاص شوم د درمان له غمه زه
سر دې په جهان نه کښېږدي همه وا ړه وښا دیو
نه دې شم بېغمه د جانان له غمه زه
لوس به اه دي وروسته دخپل یار په غم اخته شم
ډېر په زړه زهیر شوم دجهان له غمه زه
غیم دې له ازله په نصیب د عاشقانو
ځکه ته خلاصیږم یو زمان له غمه زه
ما عبدالقادر چه دا غزل د فراق و وې
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

یو غواړم له یاره ښه دیدن تازه تازه
بل در قیبانو ځان کندن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوي په تازه ګلو
نه به مدام ګل وي نه چمن تازه تازه
یو زمان له مدحې د دلبر و مه درېږه
تل دیار له وصفه کړه سخن تازه تازه
زړه چه در قیب زما په بد سره ښه کېږي
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
آه کوی له دلسه په فریاد له زیر ګلمه
وا وره له بلبلانو ښه ګفتن تازه تازه
بل فکر مې نه کېږي بې ستا له ګفتګو یه
شیر شکرې وایه له دهن تازه تازه
مه کړه په جفا سره ازار د بلبلانو
ښه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
سترګې مې خیره شوې چه ولاړ یې زه دې ګورم
وکړه په دا لوری آمدن تازه تازه
زړه د یونس چوی ستا د هجر له سختۍ
ښه خوبه خپل مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مي ولیدل په سترگو واده ښکلي / چه تر واده لا تېرې کا جمال ستادی
د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه / چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستادی
د واده زلفي د حلقه کړي لکه لومي / چه دانه دي په دا لومه کښې خال ستادی
دواړه ښې گلگونې سرې په دماغ درومې / گوره بیا څوم ره وگړی پا یمال ستادی
ته کشتن د غمزې کړه مه ودرېږه / مقتولانو قبول کړی وبال ستادی
که همه د خلقو ښکلي سره ټول شي / خسته زړه مې به ټولی کښې لېوال ستادی
چه دي څوك په کوڅه تېر شي نور مین شي / چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستادی
که مثال د صورت غواړې گوره میاشت ته / چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستادی
چه صبا بېگا یې لوندارم په اوښو / یادگاری را څخه پاتي رومال ستادی
ځوریبار در سره نه بیایې دواړه ندې / چه په چم به یې تېرېږی محال ستادی
که په قهر یې شړي په لطف یې بولي / چه یې نه پرېږدي په هیڅ کښې خوشحال ستادی

« خوشحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی / قدې سرو صنوبر دري واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو / لب د یار شهد و شکر دري واړه یو دی
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم / نارو خارو دا بستر دري واړه یو دی
چه و دراو و د پوارته یې نظر کړم / باغ بوستان او دغه در دري واړه یو دی
چه غبار یې د کوڅې را باندې را شي / دا غبار مشك و عنبر دري واړه یو دی
خدای دیار له هجره هیڅوك خبر مکړه / تاخت وقتل و دا خبر دري واړه یو دی
هغه دم چه سړی د رومی له جهانه / توري خاوري سیم و زر دري واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندری کا / خان سلطان او قلندر دري واړه یو دی
په دکان د نابیناؤ جوهریانو / خر مهري لعل و گوهر دري واړه یو دی
دا پیران دي عار زما له عشقه نکا / پاك عشق پیر و پدر دري واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو / گور او کور و پښور دري واړه یو دی
غزاوشوه که خان ستانی ورحمان ته / بی هنر و گاو خر دري واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور گیسو د بچندنې باندې ښامار دی / توري زلفي دی سنبل د نو بهار دی
توري سترگي دي هوسۍ دی خطا شوی / چه وخروته پرتې په سنبل زار دی
توري وريځي دي لیندې باڼه دي غشي / عاشقان یې زخمي شوي په گذار دی
مصفا تندی دي ښه دی تر بلوره / بېدلان یې په سرونو خریدار دی
دغه خال چه دي دوه رونحو په پیوند دی / د خطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی
سینه پوزه دي غوټې د زنبق ده / چه چاپېر ترې نور گلونه د گلزار دی
ښنا گوښ د نسترن دی غوړېدلی / د چنبې تر گلو به د واړه رخسار دی
سینه خوله که دي غنچې سره نسبت کړم / د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دي ښې دي د سرو لعلو / سپین غاښونه بې بها در شهوار دی

ښا یسته ز نه د سیب د سمر قند دی
چه خوا ږه یې تر ښا تو نه بسیار دی
صمرا حی د سپینو ر ر و سپینه غا ړه
سیم اسا اوزې دې هم په د غه شمار دی
وا ړ ه تن د ې د حلب تر ښیښی صاف دی
چه را زونه دد رون تري نمو دا ر دی
سپینی لیچې د ې و ښکلی مصري تو ری
چه خو نونه یې په غا ړه سل هزار دی
د یا قو تو نیګنی د ې سر ه نو کو نه
ځای په ځای دې په اوزوباندې قرار دی
چه مې ستا د تیو ښه ننند ا ر ه وکړ ه
هغه ګلک په لذت لک خوازه انار دی
د نا مه غو ټی د ې ګل ده د ګلا بو
کینز اوښی د ګلو پانې پرې انبار دی
د نا مه ن ښکته د م و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډ یو تر صفت د ې نه ر سېږم
ولې سپینې په سپینو الی تر چنتار دی
سپینې پښې د ې د ز نبق د ګلو پا نې
دیږو ګو تې دې ګلو نه دا نار دی
تما م قد د ې په مثا ل د ښېر و نه
در ښده یې سم په مثل د چینار دی
سر تر پا یه نندا ره یې ځان دې چوړ کړ
ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو
د او بیا دا نه یو ه مټر خر وار دی
نه خو ږ ې ر مهر کوی عمر د ې ډېر ښه
دخوشحال خټك دې تش لیدل په کار دی

« خوشحال خټك »

عا شقی ر ا با ندې سو ر ی کړ ې مر ی
هیڅ مې نه د رو مې بې با ره تر مری
څه ا ثر به یې د عقل و ی په سر کښې
د هغو په سر چه کښېنې ښا پیری
د مژ ګا نو به پنجه مې ز ړ ه و کا زی
خدای د تر کو مستې ستر ګې کړې مرزی
علو فه به یې بېغمه نو ر څه نه وی
هر چه کا ند ې دخو بانو چا کری
لېز د صبر سبق ما لر ه هم را کړ ی
که په عشق کښې څوك دغه طاقت لری
خدا یه څه دې د کو توال په لاس کښې ور کړم
شپه او ورځ مې غنز و ی لکه تو ری
په صور ت مې نر ی تپه شو ه و لا ړ ه
تاچه دوا ړه ستر ګې تو ري کړې نری
د و صا ل د لا لان کوم طرف ته غوا ړم
چه بند ی شوم د هجرا ن په کچری
نو ر د شمعی په فا نو س کلمه پټیږ ی
تاچه وا غو ستې دخیال جامې نری
ز ه ر حما ن په ز ړ ه نری کړم هغه جو نو
چه یې ملاوې د و ښته په دو د نری

« عبدا لرحمان مهمند »

د ا چه مست په میو را غی یار د چا دی
بیا به تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه ز ړ ه سوی یې د حرم په صید هم نشی
دا ببد ر د ه بیصر فې ګز ار دچا دی
ما خو نه د ی څوك یو جهی از ار کړ ی
د ا چه ما از ار وی از ا ر د چا دی
چه یی د ر ست جهان د مخ په رنګا ز یست کا
دا آفتاب غو ندې روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یې ر سپد ی تر ګلو نه شی
د ا د ننه په حرم ګلز ار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری ر حما نه
دا نا ترس اوبې پروا ګزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین ر خسار او مشکین خا ل یې سر خم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دې مخ په ز لفو پټ دی با ك یې نشته
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له ر خسا ره له سرو شو نډ و
پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی
په د هن کښې د ې غا ښو نه تجلی کا
یا غو ټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس ز ما زړه غوښ ستا په غمزو دی  چاره، غوښی له قدیم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه گوری سیاچشمه  د نرگسو غوږ یه د جوی په نم دی
راحت ندی چا مونډلی بې زحمته  ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له بر کښته  د رحمان د شعر کوکی په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنگ بدیم ښکلیه! عارولی له ما کړي  چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړي
یو ځله بیا راشه په گلونو گذر وکړه!  ای د صبا باده! چه بیا نغښتی غنچې وا کړي
گل دې په هجران کښې سل توتی خپله سینه کړه  سرې دې له فراقه لاله ستر گې بړندا کړي
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی گله!  ته به دا خوبی هم دده ښار و رسوا کړي
لاخوشبویی ور کا چه یې واچوی واورته  زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانور ښکلی لکه ستوری  گل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټك»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانی  خورم شراب د مینې ډکې ډکې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو په گلزار کښې  جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو ستر گو د ر راوښو واړل په خاورو  نه یې وساتلې په ښه کښې د ر دانې
هرساعت چه ډمه کا سنگار د یار د زلفو  وخیژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شېخانو ملایانو  ور کې شه پیخایه د پښتون د پرې ستانې
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهېزدی وکورته  ځای را لره نشته یې د یار له استانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه  څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرگ د شمس الدین چه د دلبرد یاده نه ځی  شپه ورځ بې ترلی دی په گوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنگ لیدلی دی  د زړه رخت مې په عشق رنگ لیدلی دی
اوس له وېرې په کوڅه ورتللی نه شم  ما د مستو ستر گو جنگ لیدلی دی
غم و ښکلې توری راغی که مې پرهیزدی  ما خلاصی د ستا تر څنگ لیدلی دی
ما بېگا شپه د یار مخ لید لکه شمعه  دا خپل ځان مې پری پتنگ لیدلی دی
دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی  چه خپل حال یې ډېر بد رنگ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننگ لری کوی  تش دیدن د ښکلیو د زړه زنگ لری کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم  گله سپی غماز له یاره څنگ لری کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننگ دی  ځکه هرملنگ له ځانه ننگ لری کوی
خدای په دواړو کونو هغه ړوند په تورلیمه کړه  څوك چه ستا له شمعی ما پتنگ لری کوی
یارمې په شړل ندی راضی زه پرې پوهېږم  سپی غماز له دره ما په جنگ لری کوی
بس کړه ای ناصحه! تورځیگر را باندې مه خوره  گله مست بنگی له ځانه بنگ لری کوی
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه  عشق بوهسې رنگ دی چه بل رنگ لری کوی

«مطیع الله پیرخیل»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
مرم د خدای د یاره په شتاب شتاب رادرومه
ځم د یار په اوری په هواهوس خوښی کړم
هر څوك چه طلب کا پته نه ده دا خبره

ګوره دا په ځان خونی تورمارلره وردرومی
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومی
ذوق کانده بلبلې چه ګلذار لره وردرومی
هر کله مطلوب و طلبګار لره وردرومی
«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې نه دی څه دی
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه

ښکلی غاښ دې مرغلرې نه دی څه دی
سیه چشمې سحر ګرې نه دی څه دی
هوسی سترګې زو روری نه دی څه دی
ښتنې په قامت سترې نه دی څه دی
ستا د مخ په دور لرې نه دی څه دی
«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ېږی
څو کبر لویی ده و خوبانو خدای ور کړی
څه شو که ترې سله ځله ځار ېږی په ساعت کښې
ښه رنګ یې بدرنګ کا چه پری واوزی پیوخته
ګرانې دی هر ګوره نوې چارې نو آموزته
زردی چه خبر به شی د سترو له احواله
سرغواړه له خدایه خولې ډېری دی فاضله

سترګې د ښو په درانه بارنه زهیر ېږی
هیچېرې بی زړه په عاشق خوارنه زهیر ېږی
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر ېږی
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر ېږی
هرچه مدام مې خوری په خمارنه زهیر ېږی
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ېږی
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ېږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایی عاشق شوې زه سو ګند خورمه چه کله
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو
شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
که نور په صهبامست دی زه خوشحال په خرابات کښې

سجود که روښن کړم که داعیب دی هم وی دی
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
ستا نوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
مستی یې به دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
اندرون ګو ګل می درست دو ینو ډك شو
بیا دې نوی پرها رو نه په ما روغ کړه
په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه
زه دې درست له باغه وا یستم دلبره
تو رو زلفو دې خوشبو یه کړه ملکو نه
خماری سترګې دې دواړه شنه زمری دی

زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
لرغونی مې لا روغ نه دی ځینې ځینې
څه پکار دی که یې کړی په مرینې مرینې
تورزاغان پکښې مېوی خوری خوږینې خوږینې
دواړه ګلو ښتی دی دمینکو چینې چینې
د خواجه محمد و مرګ ته وړینې وړینې
خواجه محمد بنګښ »

نه به شوک بې نا چارې وطن پرېږدي
که ستا مخ یوزلي وویني په ستر ګو
د یوسف غوندې به خوځني پیروان کا
که دې ولیدي سرې شونډي جوهریانو
که د لبر په دا ښایست لاړ شي چمن ته

نه به روح هرګز په خو ښه بدن پرېږدي
بت پرست به نور سجود دو شن پرېږدي
که د زنې چاته زلفې رسن پرېږدي
په یاقوت پسې به تله د یمن پرېږدي
د خولئي دعوی به ګل دچمن پرېږدي
«کامګار»

چه یوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته وګورې!
داخوی زماقدیم دی څه ما اوس نه دی راوړی
د خلقو تهمت یوسر دجهان غم نه بل سر
دا اور چه په ما بل دی دخپل یار له جدائی
اشنا ته وایه نشي نا اشنا به څه خبر پېږي
ناوك یې دمږ ګانو دابرو په کمال جوړ کړ

که درسته دنیا ستاشي هم څه نده دا تر پوري
چه بې دزیبا مخه راته خس دی چار ې نورې
هم ته به مې له هسې رنګه سختې بلا ژغورې!
نه ګرم نه ملامت یم که تل وینې ژاړم تورې
دا راز چه له مانه دی اوریدلی خپلې مورې
خدای زده چه به دچا ترزړګی وزی پورې وورې

ښه باز دې دخوشحال خټك خاطر په لاسو کبوت
په قدر ی خبر شه چېرې نه په لنړی پلورې!
«خوشحال خټك»

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ږدي
د عشق اور مې وبلوی د زړګي شمع
مادې خیال له فرش کړی تور لیمه دی
په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه

دا زما پر زړه دا غونه آتشین ږدي
بیهوده مې پر موم نقش دنګین ږدي
ته بې نیا زه قدم ولې پر زمین ږدې
په راحت چه سر له نازه پر بالین ږدي
«پیر محمد کاکړ»

❀ ❀ ❀

# ه: موضوع ګانې

## (۱) ـ مخ:

بادیې لاس په پلو کښېښوږدی سره ریږدي

ګل یې مخ وته نظر کا خوله یې ریږي دي
«خوشحال خټك»

د پری ښکلی جوړه مالیدلی دی په ستر ګو
زور دغاښو مکړه مخ یې صاف تر آئینې دی
عمر به یې لنډ شي که ئې تار دزلفو کم شي

روند شم که به تا غوندې په حسن ښه وه
زخم به پرې وشي په ورو ورویې ښکلوه
فهم کړه ای ډمی! ز منځ ورو وروچلوه
«عبدالقادر خټك»

ای چه په مخ و ډ ې خو ئې له ور ده
ته بې آسیبه بېهی، سیب او سې

خالی یو دم نه یم د ستا له در ده
که ترنارنج مې خپر ده زر ده
«عبدالقادر خټك»

که مخ دې نمر کړم دنمر کړه وړه نشته

که یې سنبل کړم سنبل مشکین نه دی
«عبدالقادر خټك»

د پر هوس لرم دا ستا د مخ و ګل ته

زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړ ې
«شمس الدین کاکړ»

سپین رخسار دې ستا کعبه د عاشقانو — تورې زلفې غلافونه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښېږ را ښکاره شو د دلبر مخ — که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو — پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دی غټ و مخ ته کښتې نشم — کله لید په خوږو سترگو شي د نمر مخ
«قلندر»

دا دې یار خو دی، خوله نیولی — که لاله گل دی پر خپې وهلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه — که لعل و در دی سره پېیلی
«خوشحال خټک»

ډېر مې ستا و مخ ته وکاته موړ نشوم — نور به څو پردې نا بوده دنیا ویادم
«شمس الدین کاکړ»
لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه ! — په درست باغ کښې یو نسرین هسې لري !
«خوشحال خټک»
مخ وته یې، گوره چه په مخ لری خاونه — څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال خټک»

## (۲) شونډې اوزنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی — خواږه دې لا د کنځلو زبات دی
څوک یې چه ښکل کا سخ د هغو دی — شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال خټک»

بوی به ستا د محبت څخه روان شی — که یاره مې د نافې په دود تاتار کړې
په نازکو شونډو یار د یانو مه زده — خدای چه شونډې سرې یې یانودرته در کړې
«عبدالقادر خټک»

غنچه خوله چه یې نقطه مو هومه ده — څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»
په سرو شونډو کښې یې روز دی هم او به دی — دواړه زیست کا په یوځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»
که څوک وویني د استاذ نخ پر آب — زړه یې ووزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»
چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم — په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»
هغه شونډې چه ځای د یانو سرې دی — هغه شونډې څه حاجت لرې و پان ته
«خوشحال خټک»
چه په خیال د سرو لبو د شپې څملم — هر سحر ځاځی ځما تر بستر وینې
«عبدالله پوپلزی»

### (۳)- بوسه:

| | |
|---|---|
| چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلي<br>څوك مایوس څوك په امید دیار دوصل<br>زه خوشحال د آهو چشم مینې سر ګرم | ګویا اخلي د یا غیانو قلنګو نه<br>څوك پراته غاړه غړئ په پالنګو نه<br>د غرڅه غوندې په هسې ګړ سګو نه<br>«خوشحال خټك» |
| چه د یدن دمین و کړ مه تازه شم<br>په ارمان د هغه و خت یم د ریغه د ریغه | لکه ککبنت چه په باران سره اوبه شي<br>که د زنې سبب یې بیا زما په خوله شي<br>«خوشحال خټك» |
| څوك چه زور د مښکاره کا وزیاتیږی | که پخیله بوسه را کا زور به نشي<br>«خوشحال خټك» |
| مګر تا سره سامان د سلطنت دی | چه په هوډ مې سپینه خوله غواړې خټکه<br>«خوشحال خټك» |
| څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی | نور مې ګل له د له هېر دی تلذذ<br>«خوشحال خټك» |
| سر به درکړم مچه را کړه ښه سودا ده | که بې ته په بها پیرې زه یې پلورم<br>«خوشحال خټك» |
| په رښتیا ږ ما ته و وایه طبیبه !<br>سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم | چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی<br>په خوشحال به مې منت وی که به نه وی<br>«خوشحال خټك» |
| دادی هغه اوچه په هجران کښې پسی ته مرې | اوس یې په وصال کښې دواړه اوریه ښکلوه<br>«خوشحال خټك» |
| دصبا باده ! ګزر په چمن بیا کړه<br>زه خوشحال کمزوری نه یم چه به داړ کړم | په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه وا کړه<br>په شکار ناري وهم چه خوله یې را کړه<br>«خوشحال خټك» |
| زده مې تخمخ کېږی دسپین مخ وښکلول ته<br>زه چه لحنې سوال دبوسې و کړم راته خاندی | لاس یې لر بر کېږی دزلفینو ونیول ته<br>یا به زړه راضي ده یا پروانه کاوین ته<br>«مطیع الله پیرخیل» |
| چه یې تل دمخ ثنا وایي خوشحا له | په صله مې سپینه خوله درته بخښلې !<br>«خوشحال خټك» |
| دبوسې وعده دایم صبا برات کا | زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې ؟<br>«اشرف خان هجری» |
| بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو با نو | قسمو نه مې نا صح ګڼل عبث<br>«میا نعیم متی زی» |
| هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه | په خو زو یې د حلو ا نشته غرض<br>« یونس » |
| که هر ار لحله شیخی کوی خو شحا له | که ښه ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه<br>«خوشحال خټك» |

## ٤ - ستر گی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر گي
هسی پري غو ځېږم وايی توري لري ستر گي

يارمي پهښايست کښي بی نظيره بی مانندی
لا په درست صورت کښي ډيرمشهوري لري ستر گي

ناست دی لـکه ځری رقيبان وخوار عاشق ته
ځـکه ستاله مخه هوري دوري لري ستر گي

هرچيرته چه ته يی هغه اورته مي نظر دی
هرچرته چه زانی شاهين هوري لري ستر گي

« خوشحال ختك »

ما يی خيال لره ابلق د ستر گو زين کړ
قدم نښ دی په رکاب زما د ستر گو

« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی مي دپښو کړه ترې چاپيره
گوندي خيال دیار په ستر گو کښي حصار کړم

« عبدالقادر ختك »

ځـکه ما دعشق په تېر ځان شهيد کـړ
چه مي نه رسی د صبر په کـفن لاس

مر گـئ دژوند زما پوښته له مړاؤ ستر گو
په رسا گـذار پو هيږی د تور زن لاس

« عبدالحميد مهمند »

کږی وروځی کوزبانه چه دي را ياد شی
کـازه غشی مي تر زړه لوېږی آزاد

« پير محمد کـاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېري ستا
پري به غوځ شی هرچه کـاندي ننداري

« ميا نعيم متی زی »

باز دیار دستر گو دمژ گـانو په پنجو کښي
دی لـکه تنزری په چنگ و ږدی زما روح

« ميا نعيم متی زی »

د اشنا دتورو ستر گو په تعريف ــکښي
نـده کـمه شاعری لـه اجتهاده

« ميانعيم متی زی »

خو دیار بيماري ستر گي خدای خونی کړي
گـڼه خون کـلـه کـولی شی بيمار

« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر گو فتوی در کړه چه مي وژني
حيرانی ده پر دا لو ستو د مکـتب ستا

و کـوثر ته حاجت نـه لری د خپلو
چه جام نوش کـا څوك دميو لبالب ستا

« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سيني پر خبر نه يم
دا د ستر گو باز مي بيا راځی وښکـار ته

« مرزا حنان »

يل يی په جهان کښي مـو ندی نشی
عـاشق تـله د يار په لوری په ليمه کـا

« عبدالقـادر ختك »

بی د يار له مړاوو ستر گو چه کج گوری
گـڼه نـکـا رنځورا چا ته جواب سخت

څوك د صبر ارام نـه غواړی په عشق
د ازل کـاتب دی ښکـلی پهدی باب سخت

« عبدالحميد مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کـا

« پير محمد کـاکړ »

روهي گـلو نه (۵۲۵) ب سردار محمد ، ح سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرانه پښتو ټولنه ۱۱-۱۰ - ۳۵ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥- غابن

په آرزو دسپینی خولی یی په بوستان کښې
نرګس پیاس پر سر نیولی د ه پیا له

چه یی ولید . خندا د سپینو غا ښو
له شبنمه لمن د ګه کړ . لا له
« شمس الدین کاکړ »

په ر نیا د سپینو غا ښو یی خرم و م
وا قف نشوم د هجران د شپ له دا چه
« پیر محمد کاکړ »

## ٦- غوز اوپوزه :

در په غوز کښې د مهرو هسی ذیب کا
لکه بر ښنی په سحا ر کښې ستا ر ه
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زا نګی په غوز کښې
کو ا کب کا په اسمان لر زان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوز وتی مقصود مو می لښتی ده
چه له پوزې یی مراد مومی لونګ د ی
« خوشحال خټک »

سپینه پو ز ه د ی غوټی د زنبق د ه
چه چاپیر تري نور ګلونه د ګلزار دی
« خوشحال خټک »

## ٧- خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لری خالونه
څه عجب زیبا د ی لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال خټک »

زه حیران د اعتقاد وریخو په نور خال یم
ګل ده پری باریکی په شبنم خوړ شی
کافر څه رنګ سجده کاندې په محراب کښې
نازک زړونه بد وي په صاف جواب کښېنی
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دي په سرولیو هسي زیب کا
لکه مهر په مخو ن د د ر مر جا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شني کا
زده مي شین شوستا دشنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبر ی یکښ نه وی
د عشا قو یکبار د ا ترا نه نه د ه
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ز د ي
دا زما په زړه دا غونه آ تشین ز دي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یا نو
هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې ځکه پـه سل ژبو گفتگوی کړی
چـه شانـه وهی پـه زلفو د نگـار لاس
« عبدالله پوپلزی »

پـه لشکر د تورو زلفو یـی تالا کړم
خدای دې نه کا حاکمان کفـر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زر عو نه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

ځانگی یکښې زړونه د عاشقو سره یه ویښو
نه چه چیری کیښږدی سره گلو نه یه اوربل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه یه خه ښانې تاویږی وایمان تـه
« خوشحال ختک »

که څوک وایی چه مار کـله په کټ څیږي
زه خـو ئی لیدم پـه کټ د زلفـو مـار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لـکه شانه شم پری نه یی نږدم
که د تورو زلفو تار په لاس راکښیوت
« مرزاحنان »

توری زلفی دی په لیچو باندی زانگی
ښامـاران دی دچـندرو پـه ښاخـونه
« خوشحال ختک »

دار بل په هر هر تار یی زړونه بند دی
مشاطـه ورباندی نـور یسی پـه تارو
« خوشحال ختک »

کهدد یدین حج اکبر کوی تلوار راو که
چه پر سپین مخ باندی‌د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخندزاده »

## ۸- زلفی:

که بل‌مار چیچل په لاس یا په ښو کاندی
په زړه خو لـه لگوی مـار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بی ځنمو وهم مینه دی
ښهـو دمه وزتـه کښیښنو دا م پـه څـه
« عبدالرحمان مهمند »

دک می د ننـه لړمون یـه اوربوتو
زړه ښمنـد ړدی یـکښې یـی کـور شو
چه ستا د تورو زلفـو په رنگ دی
لـه بخته خـو ښیم چـه بخت‌می‌تور شـو
« عبدالقادر ختک »

په لیده یـی پیـچ وتـاب شم نـه پـو هیږم
خه بلاده دشـوخ چشمـو پـه کـاکـل کښی
تر حلقـو د زلفـو مخ ئی معلـو میږی
کـه گلاب راته‌شکـاره‌شو په سنبل کښی
« مرزا حنان »

زه‌مین یـه هغـه زلفـو پـه رخسار شوم
چـه ستبـل ورتـه خجل دی گلاب هم لا
« پیر محمد کـاکړ »

خو دیه‌ځو دیی کله زلفی په‌مخ زانگی
واده زهر دی چه څوزی په‌تور مار کښی
« پیر محمد کـاکړ »

خیال د زلفو یې د زړه په جیدا کیږی — د کیمیې په وینې پښکته شی تور حجاب
«عبدالله یوسفزی»

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را باندی — چه په ما دی نظر و شو په خندا شوی
«خوشحال ختك»

کله کله په خپل قهر کښی مسیږی — لکه خوك په هندو بار کښی دینداری کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دشنا مه سره زیب کا — قدر زیات لری تر خه چه شی شراب
«مرزا خان»

## ۱۰ـ لاس:

د ا محنا د قا تل لاس دی نه یو هیزم — که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
«عبدالرحمان مهمند»

کوم دلبری زړه په سرو منگو لوړه ی — چه لاس یې د وینو د کښی دی د حنا
«شمس الدین کاکړ»

سره نو کان دی د سرو گلو په څیر زیب کا — د واړه لاس چه دی رنگ کړی په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱ـ حسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پیدا ایی — پوری مور که ښا پیرئی یی راوړه ی
«خوشحال ختك»

زه رحمان د هغه حسن تنا خوان یم — چه جرگه دعا شقانو وی پر پښده
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گرمه خو په — لکه گل په نمن یت تازه شبنم ودم
«شمس الدین کاکړ»

پو یکښی مخی د ښند هار د کښلیو نښته — کښلی د کشمیر که دلا هورو د کا بل
زړه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ — پو طرف دی تیك شوبل دی نته بل چار گل
«شمس الدین کاکړ»

خو برو ئی بی دلبرئی څه په کارنده — لکه ونه بی میوی په با نو پوره
«عبدالرحمان مهمند»

توری زلفی ښته خالونه سره رخسار — ښه ښفه طوطیان دی سره گلونو تور ښامار
«یونس»

## ۱۲ـ جامه او گانهٔ:

ارغوانی جامی یی واغوستی رحمانه — بیایی جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
«عبدالرحمان مهمند»

دعقیق د آب په رنگ یی تن معلوم دی — هر وروخ چه جامه واغوندی گلنار
«مرزا خان»

نور دشمعی په فانوس کښله پټیږی — تاچه واغوستی دخیال جامی سپړی
«عبدالرحمن مهمند»

درسته دي له خېل غریو واېستم خوشاله    یو دغاړي هار مې د ګلونو مه شلوه
« خوشحال ختټک »

### وښې

داملال دی چه لیدل شي په شفق کښې    که په لاس د ګلاندامې سپین وښې دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۳- عیش، او دعشرت سامان:

دنیادار کړه چه نه وي ښې دلبري    اوردي یوري ددنیا په ملك ومال شي
ارمان دادي چه به زه همیشه نه وم    همیشه به سره ګلونه کال په کال شي
د ګلونو وخت تېرېږي ساقي! ګرم یې    که دجام په دکولو دي اهمال شي
« خوشحال ختټک »

❁ ❁ ❁

ساقي ! یورنه شه دمیو جام تیار کړه    عمر هیڅ معطلي نه کوي تلوار کړه
که غمخوار غواړي په غم او په اندوه کښې    ښېښه د که د شرابو اختیار کړه
هغه څوك دي چه تهمت پري وایه نه شي    غوز به هیڅ بانديمه باسه خیل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

❁ ❁ ❁

غنچه غنچه شراب ساقي! بیا به ارمان کړي    عندلیب ناري وهي چه بهار دروي
« عبدالقادر ختټک »

❁ ❁ ❁

ساقي وخت د نوبهار دی شراب راوړه    دشرابو سره نقل دخولي مل کړه
« خوشحال ختټک »

### رباب

په آواز مې یې دزړه پرهار ګانه شي    مین څکه د رباب په زیرو بم یم
« عبدالقادر ختټک »

له مزینه زړه مې نرم او از څېړي    څکه خوښ لګه رباب په زیروبم یم
« عبدالقادر ختټک »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وای    رود و سرود و نقل و شراب وای
ښې ښې محبوب بې ښه ښه احباب وای    خو یې د عمر وخت د شباب وی
« خوشحال ختټک »

### شراب

زمایار په خوب ویده دی چه ویښ نه شي    په پیاله کښې ساقي! مې تر یوه ورو
« عبدالقادر ختټک »

ګله ! ته چه د بلبلي مخ جار باسې    مګر ستا په خیل ښایست امید مدام دی
نور چه تل د کې پیالي تشوي ښه دی    په یوه پیاله خوشحال ختټک بدنام دی
« خوشحال ختټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ګلګون شراب د کومې میخانې دی  چه صوفي يې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا ګلونه نوی میخواری کړه  د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال خټک »

د رحمان شراب له عشقه  نه انګور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د ګلو نو میو ناوې راسته ناسته  زنګاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو  وینم یکښې هردم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږي  معطل مه کوه ساقي! په داد وملشه
« عبدالقادر خټک »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده  دا شراب حقیقي نه اری خمار هېڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی  چه یې کاږي له انګوره
« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه سستي مکړه  کاشکې بوهم یاتې نشي هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

ګیځ رڼا د نمر خپره شوه  زما یر کور د ویر ناره شوه
د بیلتون ورځ تور ه تیاره شوه  غږ شونا ځا په چه بیلتون راغی
زړه می له دې ویر نې سین دی  په زړا ژړادم خه ما ورین دی
زرغون له او ښو مې سا دین دی  په نول نولېږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا راشی  نه به تیاره شپه زما رڼا شي
نه به شڅي را ته پخلا شي  بېلېږي پېر یې اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکړی  آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دې پر ښو وی وا ته کړي  په ما د بل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بڼ کاکړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

ویر مې زړه سوری سوری کړ  را ته وګوره ملو کی ! !
په بیلتون کښې دي و باسم  له خوږ مینه زړګی کوکی
را ته وګوره ملو کې !
را ته وګوره ملو کې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلبلتون اور ونه بل دی    هر گړی می زړه گی سوځی
لبونی یمه د مینی !    سوځم زه لکه پتنگ ځی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

غوږ ولی دی اور بل دی    اور زما په زړه گی بل دی
زه «بختیار» خاوری ایری شوم    په اور سوی می گوگل دی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

« قطب الدین بختیار »    ❀ ❀ ❀
« متوفی : ۶۳۳ ھ »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری    لکه بازی به تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد وبله بیل شی    خدای بی څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښی د گوگل په جوش پیدادی    لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا له شسته خیژی    زمانه دخوشحال زړه ورته امآج کا
« خوشحال خټك »

که داستا ستر گی راوجا ربا سم مځانته    له بنادی به یی نور شا کرم وجهان ته
یوزمان می که داستالیدل نصیب شی    نور به ستر گی پور ته نکرم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کینږدی    تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندی تیر یږی ستا په عشق کښی    خدای دی هسی حال پیش نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډیر ژاړم    دواړه ستر گی می پیغور کا و باران ته
« خوشحال خټك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم    لکه نی یم وهر چاته په فغان کړ
« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښی شوق دبوسی څه کړم    خوږ شربت په حال دمرگ د بیمار نښلی
« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو    دبڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندی مکړه    دښو یارانو فراق نشتلی یو
« پیر محمد کاکړ »

دسحر چر گه خوږ شی په کومی    چه تا ناری کړی دلبر می دروم
یومی دلبر ځی بل رانه زړه وړی    زړه می پدا وړی چه دلبر نوم
« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی    په هر چاورمشه بی وخته مېلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ    په دریاب کښی نشته نمونځ په تیبا نه
« شمس الدین کاکړ »

وخت دنوبهار دی زه جدا له خپله یاره    دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځی بهاره!
ژاړی غاړی غرونه په احوال دعاشقانو    سیل د اورو ندی چه را درومی له کهساره

اوردخوږو ږړودی چه‌دغره په‌ونو بل شو    سری ډډوزی خېژ ی له نښتره له چیناره
غوادی چه‌احوال‌دفراق چنودرمعلوم‌شی    گوره هغه زانهي چه جدائی نحی له قطاره
نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی    راشه که بی اوري در با ب له هره تاره
رنځ‌مي نه کمېږي‌په‌زمان زمان‌زیا تېږی    زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره
مرگ د رقیبا نو بل ژ وندون د حبیبانو    خدای‌ږوبه‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره
څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو    رنځ چه‌لا دو اشی طمع بر یکړ ه له بیماره
هسې‌خواروزارشوم‌ز خوشحال‌په‌عاشقکېښي    خپل دی که پردی دی راته‌نه گوری له هاره
« خو شحا ل ختک »

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغار و نه    دهوا دیاران را یاد زانهی‌ا کښر کا
« عبد القا در ختک »

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم    خپل‌ژوندون‌مي دروغجن کاندي‌چه‌یایم
په‌قد کوږ په‌تن ضعیف گوښه یولی    په مثا ل لکه ا بر و د دلر با یم
« عبد القا در ختک »

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو    په هر مسجد کښي ا ذا ن ادا شو
راشه‌چه‌ښکل‌دي کړم‌اوس‌به‌بېلېږو    په ځا ن ز مو نږ ه صبا بلا شو
« عبد ا لقا در ختک »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه    که یو د رنگ کېښي ز ما تر څنگه
که اشنا نه‌بی داشنا مثال لري    ځا ر شم قر با ن شم تر تا ملنگه !
« عبد القا در ختک »

وخت د سحر شو پر یوتي تلي    له کښیه لو ر یسه را و ختلي
د یار د راغلو وعده شوه تېره    په ډېر ککتل مي ستر گي و تلي
« عبدالقا در ختک »

د مني و خت ؤ و ني لید لي    یو څو بلبلي چه ژ ړ ید لي
خواري خسته وي وي‌مي سزا یی    چه بی گلو نو و یا ښید لي
« عبدالقا در ختک »

وږل‌دهجرپرما شرط‌مکړه په‌عشقکښي    ز هر چا خوږ لی ند ی په شر طو نه
« شمس الدین کا کړ »

دزړه‌ویښې‌مي په کومه‌درشتې‌خوري    هغه شونډي چه په شهدوشکر خوږ شی
بېلتانه‌مي‌هډوپوست‌هسې‌وچ کلک‌کړه    دیار لاس مي په وهل دخنجر خوږ شی
« شمس الدین کا کړ »

د هند با را نه آ هسته و وره !    یار مسافر دی د ر بره بی ژ خو ره
د سا یی گل ؤ به نا ز لو ی شو ی    و تلی نه دی هر گز له کو ر ه
« شمس الدین کا کړ »

د هجرا ن له ډېره غمه ولي نه مرم    له دي هسي رنگه ماتمه ولي نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږ ی    د دي د هر له ستمه و لي نه مر م

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
چه په لبزه گرمی شا کاندي و گل ته

له دي هسي صبحدمه و لي نه ور م
ه دي بیو فا شبنمه و لي نه مر م
« عبدالر حما ن مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه په شپه د جدائی

د رستة شپه بیخو په دا-مان ستوری شمیری
خو شحا ل ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ
سرو مال په دا عا شقان پلوری په کاغذ

دادی تما ما د محبت کمال طور و نه
یار له جدا ئی چه یار ژ غوری په کاغذ

ته که نه رادرومي گاهي گاهي په خطیار کړه
نیم ملا قا ت و ینم ستا له لوری په کاغذ

مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندي
کله کله یاد کړه خیل غمخوری په کاغذ

وران به هر گز نه شی کښلي توری له ازله
هرزمانی که ستر گې د چا اوری په کاغذ

ستوری د طا لع هم له جبینه معلو میږ ی
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ

مه گوره بی خط قلندره د یا ر مخ ته
بی توروړ ندیږی چه څوك گوری په کاغذ
« قلند ر »

## ۱۶ — ژړا

که گریوان می د سپوږمی د نمر مشرق شی
در حمان خندا په اجر دژړا ده

زه چه یار په ستر گو نه وینم تورتم وی
تاز گی د گل په قدر د شبنم وی
« عبدا لرحمان مهمند »

ناخبره په ی له حاله شفق بولی
که دوینو په ژړلو کرم اسمان دوب
«عبدالر حمان مهمند»

بی دردان ئی لاس سرخی دشفق بولی
که په وینو کرم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعي په څیر ژاړم تر صباحه
ته د صبح په شان خاندي له غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامی شوه تازه دزړه داغونه
لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
څما دیار په زړه کښ جوروستم نشته
در وی ئی سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنی نشا نه ده
بلبلانو پر ي لوولی گواهی ده
که فریاد په زوره نکړم زړه می چوی
که په زوره ناري کړ مه رسوائی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر ستر گي د گل له اوښود کی
په دا باغ کښ ئی ژړلو خندا نشته
« عبدالقادرختك »

روهي گلونه ( ٥٢٥ ) ب : سردارمحمد ح محمدعلي خان : ر عبدالغني : ن رجب علي : ه اجرائیه پښتوټولنه تاریخ ٧ - ١١ - ٢٥ ع

## ۱۷ - او ښکې :

څه اثر به زما او ښي په تا کاندي
لا تازه شي او ر په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره او ښي مي بهېږي په رخسار
چه غرقاب مي هم گرېوان دی هم کنار
په گرېوان مي تل داوښو باران وری
نه ور کېږي در حمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پیدا کړم لکه اوښکې په ماتم کښې
څکه برخه مې ژړا شوه له السته
« شمس الدین کاکړ »

یا کوم ستر گی په اوښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وهل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن دښکلو نشی
چه څو اوند نشی د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو اوښکو برسر پوهم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زړه غوارم په اوښو یسي ځغلم
زخمي ښکار په پل دوینو پیدا کېږي
« مرزا حنان »

## ۱۸ - غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
چه مي ځای شي نه دننه نه د باندي
له زگېروی نه مي نور خلق په عذاب شوه
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
زه دستا په غم کښې شمعې غوندي ژاړم
ته زما په غم کښې صبح غرندي خاندي
زړه مي ستا په اوری هسي او ږان دی
لکه زلفي دي په مخ دی او ږدا ندي
مادې ستا داندېښو په غم کښې سوي
ددنیا اندېښني واړه لکه سپاندي
داد ستور دی چه لوی غم په سری ورشی
نور غمونه ئی همه شی تر پښو لاندي
هرچه ما یه نصیحت له تا جار باسی
بیا دي ستا په اوری درومی له ماوړاندي
سره لمبه گوره چه څه کا په وچ دکی
مخ دیار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »

هسي زه یمه دیار په غم تازه
لکه وی هره گیاه په نسیم تازه
ستر گی وخورم که نیی وچې کړم له نمه
که مي شی په دا ژړا صنم تازه
زه به څه کړم دچا چاري بی دیاره
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
دیار نوی نوی غم زېږوی وصل
رغوی سوی پر هر مر هم تازه
که دي زړه له غمه وچوی دلگیر مه شه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
ښایسته یاران گلونه دی رحمانه !
بیلتانه کړه اکثر مړاوی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره

قسمت هسې له ښا دلیو کناره کړم
« عبدالقادر خټک »

تل مطیع الله ځکه سرور په دود نه‌مي کا

دا مشهور متل دی فریاد غم پر ښادنوی
« مطیع الله پیر خیل »

غم دیار مي په خاطر کښې محکم پیا موند

په کعبه کښې مې صیاد د حرم پیا موند
« پیر محمد کاکړ »

جای نشین و غم ته تل په انتظار کښې

د کالا پیا نه‌ی بندی یم د انګریز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کا د زړه له داغه
کفن ئې رنګه کړ د زړه په وینو

پر چمن نه دی خاطر فراغه
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زما ږدي هغه پرې سوځي

ځکه مې حیران شو و علاج و ته طبیت
« پیر محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښې

هر څوک زدی کوډی په مخکښې د باښېز
« شمس الدین کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بې هنره سپی رقیب هلته څه غوښت

ګنه زه څوک اشنائی د زور ور څوک
که ویارته رسېدای شوی په هنر څوک
« شمس الدین کاکړ »

د رقیب و سرته وزی تېزی ناست یم

پرې پرې ئې نېزدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مقبول د رقیب ناز کړ ستا د یاره

سوداو زیان په دا جهان کښې خوراو ورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستا د عشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
تش به نه شي هغه خم د عشق له میو
د دنیا چارې همه واړه فاني دي
مقتولان ستا د غمزو دي لا له ندي
در جهان د زړه خوناب مګر قبول شو

هم په داچه نوشته په جګرخون دی
چه ئې خاورې د فرهاد و د مجنون دی
داد ستا جورو جفا و لې افزون دی
چه په سره کفن له ځمکې را بهرون دی
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم د وفا طمعه

کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

تن مې پیاله تورو ستر ګو سره جنګ دی
که پر هکري سر په لاس ورلره راشم

پر لبانو ئې د زړه د وینو رنګ دی
لا په دائي باور نشي زړه ئې سنګ دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعي تشبیه گاني

خوله دې گل غنچه ده تور گیسو دې سنبل پاڼې
ښې دې دې درز کې سپینه غاړه دې دزانې

شونډې دې ژوندون ښې به ستر گو کړې خونه
ژبه دې شکرې ده د ننبه په زړه پاڼې

هیڅ پرې نه پوهیږم دا دې زنه که مڼه ده
خال دې دې په زنه که دانه ده د ممانې

« خوشحال خټک »

کنده ولې د دوا ړو ستر گو ستا په طمعه
وهر لور ته مې نیولې کو ره په کو ر دې

چه مې خیال د تر کوو لید و په زړه کښې
دوا ړه کسې مې و زړه و ته نسکور دې

« عبد الرحمان مهمند »

مایه خواست وزارې خوله له یاره غو ښته
ده په ناز لکه غنچه سره و نه غښته

شه خوشحال زما تر غوږه د یار وروړه
چه مدام کا پرتا خواب د ناز با لښته

محبوبا پر پا لنګ و ا و ښته په خوب کښې
که هو ښې ده د بهار پر ګلو ر غښته

ثمره د بد فر زند ښکنځل د پلار دې
پیدا مشه نا خلف د چا له پښته

« شمس الدین کاکړ »

چه له خندګه د ګلرخ مې اغیار کښېښناست
په چشمانو کښې مې ګل عوندي خار کښېښناست

« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو
یا پر تخت د زمرد شهریار کښېښناست

« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنګ وجدل کا باندې څه شوه
پر ګلزار وی د بلبلو شر و شور

« پیر محمد کاکړ »

کوم په له دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل ګل
کوم په له دوه ؤښه دی تور ګیسو که سنبل ګل

« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د ګلبدن ګر بوا ن پاره شو
د غنچې له چا که رنګ د ګل ښکاره شو

« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د ګلعذار
که غالب شوه په کشمیر باندې کفار

« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر یوړ
زړ غونه به مې لاله شی له تر بته

« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الیلونه شماری
پکښې پراته دی هزاران زړونه بلبلي صنم

« میانعیم متی زی »

ګو تې تورې کړې په بای کړې دا پورې
زه حیران یم ستا د سپینو ګو تو تور ته

« خوا جه محمد بنګښ »

زه دریسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع
ته صبا خندان لکه ګل واز ګر یوان دچاپی

« علیخان خټک »

یون ئې د تدرو ، دربدر ئې دی د سرو
ښکر کوی په ښکلو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل داغونو تل کړم
هم ګلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د ګلرخ په هوا درسته شپه رفتن کړم
د شبنم په څېر ښکې پېلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در ، رنګ ګهر باز مه لکه لعل
جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیال ته مې خالی کړ د زړه غولی
مېلمانه لره تیار شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دې خیال په خاطر را شی مضطرب شم
لکه ښېښ چه د مفلس کره مېلمان شی
« مرزا حنان »

چه تاو وینم تا زه غزل انشا کړم
پرې بلبلې فریاد کاندی چه ګلعذار وی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای باندې ولاړ یم لکه شمع
تر مزل پورې رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دغه دا که فدا کېږی
شمعه بله شوه تازه پتنګه خوځه !
« جمعه بار کزی »

آفرین دې په ولو ل تورو سنبلو
چه ئې ځای د پاسه ونو په ګلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېني
رنځ د هجر به شی دفع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی
د بانو په سترګو ستاد بو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم باب ـ اخلاق او نصايح

## الف : ښه خويونه

### ١ ـ اخلاق

کە د رنگ خوبي ئې ستايې بو دېې نشتە
پە جهان کښې کە باقي دی خو اخلاق دی
« خوشحال ختک »

پە خو يونو کښې ډېر فرق دی
کە سړی پرې خبردار شي
ځينې هسې خوی آغاز کا
چە خپل هم ځينې بيزار شي
ځينې هسې خوی آغاز کا
چە پر دی ئې خدمتگار شي
کە څوک خپل خصلت د ښو کا
تر سرو زرو بە ر و بېدار شي
« خوشحال ختک »

ثنا د گل شي لە ښکليە بويە
صفت د مرد شي لە نيکە خويە
اهل بە نە کا ستاينە هيچېري
د گل لە رنگە د مرد لە رويە
« عبدالقادر ختک »

چە گل همت ئې خوراك لباس وي
پە تحقيق هغە ارذال الناس وي
شرف بە خوی دی پە ديانت دی
کە څوك شريف وي يا څوك کناس وي
« عبدالقادر ختک »

پە ښە خوی د سړي قدر قيمت کېږي
بد خصلت سړی ياديو دی يا پېری دی
چە ئې علم وهنر نە وي ځني تښتە !
بې هنر سړی کە وگوري لاشې دی
« خوشحال ختک »

پە ښە خوی باندې پردي عالم خپلېږي
پە بد خوی باندې خپل وارە شي سوا
« قلندر اپريدی »

کە دې رنگ، بو، لطافت وارە دلتان کړل
نور د گل پە څېري پاس پە دستار گرځە
« فاضل »

دښە خوی گټە دە ډېرە
لە گڼلو ترانە تېرە
هغە څوك چە اخلاقي وي
د هغە نوم بە باقي وي
کە دچا اخلاق ښە نە وي
د هغە بە ژوند ښە نە وي
د اسلام دين دی راغلی
پيغمبر دی پا څېدلی
چە پورە کې ښە اخلاق
او پر ځای کي دا ميثاق
پە خويو انسان انسان دی
کە نە وي خوتش حيوان دی
مکارم انسانيت دی
رذائل حيوانيت دی
« عبدالكريم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پنډه شي
په نسب که خان ، نواب قاضي قضات وي

لکه کښت لره باران اوباد په کار دي

رب دې مکړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزي په کنجله
« احمد ګل اسلمي »

د عالم ټولي په خلق په احسان شي
« خوشحال خټک »

۲ - په ځان باور « او » همت :

چه فلك سره سر باسي
ګړه ئې ندي بې حکمته

په همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده په ګړه یم
« خوشحال خټک »

په تېرو تورو ور درومي یکسر ننګيالي
په له بو باندې ځان ولي پتنګان !

د کنجکو قدر یو ، د در ویل دی
ننګیالي لو سره څه ژوی بي ننګان

ار ټګي د زړه دلیل د جنتي ده
د دوزخ دا ور لایق دی دلتنګان

د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا
په سپهر و ایرو لړ اسي ملنګان !

نور ماهي ئې تار په تار درومي له مخې
ما توی لو اې بېړی ، نهنګان

دهاتي د پاسه سپور ورته پیکه وي
چه د میو پیالې آخلي سر هنګان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهار ژ ای پلنګان
« خوشحال خټک »

چه په غوښو ئې روزګار هغه زمری یم
نه چه والې ئې خوراك هغه مېږك یم

که عالم راته ګل تا و کاغم مې نشته
په رښتیا ویل د ډېرو پو لیو لك یم

په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سر ګردان لکه پتك یم

هر پښتون چه د مغولو نوکري کا
که دی زر ، د هغو والدو بهترك یم

چه منصب مې د مغل خوند یو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم

د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم

نه مې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه په درو لاړ د هر یوه مردك یم

نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر د سند نه د دستك یم

هر ګیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر یا توره یا کوتك یم

پښتانه لره شړی ء اندېر مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د تو شك یم

آزادي ده په ساده سپینه جامه کښې
خلاص د غمه د زر بفت اود مېلك یم

د ښو جونګړې هسې راته ښې شوې
وایي ناست په محلونو د آهك یم

که او ګره د بټو شته په شړو مېو سپینه
د مغولو پولاو پاتې ډېر پرې ډك یم

چه نیولې مې داهوډ دننګ ونام دی
که له خپلو هوډه وا وډم کنیزك یم

په بل غشي تو پك هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل ټوپك یم

چه شپېر مې بتي خیل وو کند کیرشول
پر وا دار په لندو پرونو دبارك یم

د کریز بڼې مې توڼې لکه باز کړې
ګمان مه مکړه چه بې پرو ښا پېرك یم

تف په زیره د همه وا ډو بسار کو
لا زما په زیره هم که زه بارك یم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی
زه خو بیا د سباکی انا خټک یم

نن خو قامرا سره ډېره جفا وکړه
کانده بیا د خدای و حکم و ته ټک یم

که څه حق یا د نیکی یا دورورۍ شته
و یا داش وته په طمع د هر یک یم

مهمندی زما د کیڼ لاس او ښي دی
راضی من دا فریدی یو په کومک یم

ډېر چینی چه تراوش وکا دریاب شی
چه ایده شم اوس خود ایم یو بولک یم

کر لانی څو بسی خو چه ښتانه دی
زه د ننګه په کار دواړو مشترک یم

که می عمر په شماره تر شپیته تېر دی
لا په کار د سواری لکه از بک یم

د افغان په ننګ مي وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

« خوشحال خټک »

حواله مي په تیشه د فرهاد ښه ده
تر هغه چه ناهموار لکه خارا یم

تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم
خوش په طور د ملک بي دست و پا یم

« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاك په خپل گردن زده
خو صله دي په مثال د لوی دریا کړه

« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحر و بر
که څه سمه وی که غر

په همت به ئې تسخیر کړم
په شاها نه شان و فر

« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه
دون همت اندیښه مکړه بله بله

« مرزا خان انصاری »

که فلک ئي د زمري په خوله کښي ورکا
خدای دي نه کا چه عارف په کښې غارت شی

« خوشحال خټک »

څه هغه شهباز شه چه دي ځای په سردرو وی
نه لکه د کلی کارغه گرزه غم د نس کړه

« خوشحال خټک »

که ئي ته په منت مومي وائي مه خله
که دچا په باغ کښي بوټی د کیمیا دی

« خوشحال خټک »

سر دي دروم مال دي دروم پت د نه ځی
د سړي د چارې گل خو بی په پت ده

چه یې خدای ورکاو چا شکر د کاندی ندی
په جهان کښي لویه بخره د همت ده

« خوشحال خټک »

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیائی په ښکته
یا عیسی اره وردرو مه یافا رون ته ځان سپاره

د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی
خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره

« خوشحال خټک »

هغه زیست چه د عزت له مخه نه وی
چه یې کا به هغه زیست پوري هکه پکه یم

اوریې پوری په منصب په نوکری شه
چه تر فهم و تر نظر د مغل کښکه یم

به خپل نام وننګ چه را شم لیونی شم
خبر دار کله په‌سود او زیان دلکي یم
چه په طمع د اوړ و ز غلی و شست ته !
ګما ن مکړه چه هغه نا پوه سمک یم
تر قضا پوړ ی د هیچا چا ر ه نشته !
او کنه‌تر زاړه ذئب لا ز یرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی
نه‌چه ګرځی ګونګټ نیسی بادخو ر کي یم

« خوشحال ختک »

❀ ❀ ❀

که‌دجام لکه حباب وه نه نیو سیند ته
آ فر ین د ی په همت شید ا ختکه

« کاظم خان شیدا»

❀ ❀ ❀

به څو غره په‌غره دباز غوندی پرواز کا
بیا به وا نی د خو شحال ختک پرښته

« خوشحال ختک »

ساقی جام دمیو مه پر ښېږ ده له لاسه
څو دعقل‌څه زده وی لا به مست کښی
د بلند همت کښی پورته پورته در ومی
ښکته‌ښکته ځی‌سړی په پست همت کښی

«خوشحال ختک »

چه همت د سړ ی څو قد ر ی هو مر ه
د تمیز په تله هر سړ ی تا له شی
د و لتمن سړ ی هغه بلبلی بو یه
چه‌له سینده نی‌جدا د چا واله شی

«خوشحال ختک»

نو ر ه پښتو نخو ا ه په ځا ی میشته د ه
خو یو زه‌دی زمانی په کښی منصور کړم
که‌یی درست دمتو زور راته ښکاره کړه
نه‌به بیاپه قوم کښی کښېنم نه‌به‌هور کړم
عجب مار می چا ر وتلی تر دوه پښو دی
مګر لوی پاچو پیداشی چه‌یه دور کړم
مست ها تیان خونی زمری‌په‌زنځیر کښېږی
بویه دا چه ځان فلک وته تر بور کړم
په خپل ا ه می باور شته اثر به و کا !
ر قیبا ن به او ر لړ و نی دتنور کړم
یودوه سړی مارمی پروت په‌دواړو پښودی
په دیدن یی له نشا طه نه نفور کړم

«خوشحال ختک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړ ه
چه‌محتاج دخیاط نه شی پیر هن ته

« کا ظم خا ن شید ا »

د باښی دباز نصیب شوی تازه غوښی
دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کندي

« مطیع ا لله »

وزی تېږی پروت به خپل پوز کی ښه‌ئي
نه‌په‌تخت دپاسه نا ست دبل کره
دمنت پو لا و د ي ز هر شه که‌ئي‌مومي
د محنت سو ی سکړک د ساګي سره

« عبد الحمید مهمند »

که‌د توان رسی به لوی‌دریاب کښی ګرزه
په بیله کښی د ي زو ا ل وینم نهنګه
عاقبت به ککری ور با ند ی کښېږ دي
تر خرا غ چه کیږ و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پا لنګ را سره نشته
داهم‌شکر چه ئي‌بوی ځی له پا لنګه
دغمزي به تیغ ئي‌خوږ ښه ئي خوشحا له
مړ نی په روغ صورت نه‌ځی له جنګه

« خوشحال ختک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غوټې پسې وهې په لاس به در شي
چا وې دا چه په دریاب کښې گوهر نشته
که د جنگ په کار کښې ډېر دي حکمتونه
خو صفا بېر نشي زلمیه ظفر نشته
څه عجب بادشاهي لکه خورشید کړم
یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی
که علاج لره مې راشي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

راشه گوره نامردان بلا وهلي
د بري میدان پرېږدي لرې تښتي زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره کاه
کوز د ځمکې د تلې په منځ کښې هلي
مېړه هغه چه هېڅ نوم نه یې نښان شته
تل تر تله په ژوندون پاتې ښه غلي
خوک په خپل ښېې کړل کا د اغزي و
چا په خپل ښېې گلونه دي کرلي
پسېنه کړنه هو مره فایده نه کا
چه په وخت کړنه وکا بر آخلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موي
رنج و گنج سره دا دواړه دي تړلي
« خوشحال خټک »

بنسیاد د چارې په مصلحت دی
بیا د مېړانو په ښه همت دی
چه سره یو شي دا دواړه نو که
واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټک »

مردان هغه دي چه همتناک وي
دننګې په کار کښې چست و چالاک وي
کار چه آغاز کا انجام یې فرض گڼي
په زړه هم پاک وي په خوله هم پاک وي
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم
څه منت به د دونا نو د دینار کړم
چه په وازه خوله موندې شي مه یې وینم
که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

که د مځکې غوندې کوز په تواضع یم
په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې د تپوس دی ځان بازه کړه
ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

هر سړي په موافق دخپل همت نظر اري نه
په وړو چارو هیڅ کله کاته نکاندي لوی چاري
« عبدالقادر »

مردان هغه دي چه همتناک وي
په هره چار کښې چست و چالاک وي
چه غم پرې راشي پروا دغم نه کا
خوازه له هر چا په زیست وړواک وي
« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رویه
ستا په سر کې به سایه د هما خو ښ یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر به هسکو او
لکه موج نکړمه بیم له پرېو تلو
سوال مې خوی له دُر افشانه ابر ندی
صدف وار نه خپله خوله کړم په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته
په زړم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ـ امید :

د شپې خپتن دې سحر ته گوري
هېڅوك د ى طمع امید پرې نه کا

گونډې پرې وخېژي د صبا ستوري
باران په تېز و کښېنو نو اوري
« خوشحال خټك »

له مقصوده نا امید مه شه یکلخته

خدای په ځمکه کامرغونه د هوا پیښ
« عبدالحمید مهمند »

دادستور دی چه شپه و لوېږی په ځمکه

په شتاب ور پسې صبحدم راځي
« عبدالحمید مهمند »

په ژوندون به لکه شمع دلسرد نه شم

چه تر مرگ پورې زما جانگزاری ده
« کاظم خان شیدا »

هر گره گره کشا لری نیکبخته

نا امید له خدایه غوته جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

٤ عزم او توکل :

دهوښیارو نادان هومره تفاوت دی
که په مابانديځرخ خوری پروایی نکرم

خودځمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
دهر هر کله دانا سره په نبت دی
«خوشحال خټك

نه رسي تر یاره هرچه ډېرې اندېښنې کا

ورځې کیسي پرپېږده دعشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا یو ه ده

اوس یه ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزماني سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

جمعیت مومی خاطر له تو کله
«عبدالقادر خټك»

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دي سستي وینم درویشه
نعمتونه رنگارنگ دی په هر لوری
څو طلب هومره موندل دی په دادور
د عسلو خوازه کله هغه مومی !

چه و تلی یی ددې خونې له ویشه
په غښتونی با ندې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی بېشه
چه حذر کا د مچی له بده نیشه
« خوشحال خټك »

عشق چه ډېر ولی بېتیر انداز شی
کار د محنت دی د مشقت دی

چه عشق دخط کړی وخط ته سازشی
ودو، ورو، په هر هنر ممتاز شی
«خوشحال خټك»

هرمرغه چه دبل غوښې خوری مردار دی
دذرې په خېر دلمر په طالب گرځه
کار په تش لستونی نشی بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلری رحما نه

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیږه هسی پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زمری خپلی منګولی نه کا ګیلی        هومره نه وی خړ بې غوښې ور ته تلې
مرجونړا درو مرجان هله واخیسته کا        چه قبول کاندی د بحر خونې چلې
عاشقان چه ترسره تېر شی هله ښکلی کا        د ابرو پستې خولې لکه چلې
بازچه والوزی له جالې هله ګوری        د کبکانو ښایسته سترګی کجلې
چه داور بخری یاد سره رفیق شی        بیا ماله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سیلاب دغره دسره نه روان شی        بیا هاله بیایی په مخ دېری خټلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصیل پسې یې ځکه کوښښ بویه        خپل هنر له لاسه بر پېژده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه تورده ترخه قبول لکه دریاب کا        هم هغه د قیمتی د ر و مهاب شه
چه لمبه یې د آتش کړه په ځان تېره        اوغه پسه د ګلاب بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پیا په دسعا دت ده        هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله        چه په علم یې عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټک»

ښادی غم غوندې آسانه موندنه شی        سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهله څه حاصل کاندې چه ګرزی        یو زمان قراری مه کړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار مو ندلی ندی        له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مه کړه په خپلوار به برخه در شی        بې له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه        له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیرخیل»

کار کوه کار په کار هم کار دی        تاوان په ځان باندې خالی ګفتار دی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی        ګو تره ګونګه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې        عمل هم ورک شو په مځکه باندې
او س په خبره برول و بدل دی        دا بیت بازی دی عالم یې کا ندی
«عبدالقادر خټک»

کله به لا درومې له ماای دسحر خوبه        خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ بې منزل دی
عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا و راحت شی        چه عارف د مصیبت شی عافیت شی
«خوشحال خټک»

٦ـ صبر او استقلال :

غشی چه د بڼ ولی ښه تېر انداز شی        چه مشق د خط کړی و خط ته ساز شی
کار د محنت دی د مشقت دی        ورو ورو په هر هر هنر ممتاز شی
« خوشحال خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ تېي د هر چا نندي سره ــمي      دخرد بار د فيل په شا باندې مثقال دی
نه چه لافی د مردانو د میدان کړی      په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق یی سنز شه پغندنه      بیچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی

« خوشحال ختك »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی      چه غم پری راشی یکښې خو شحال نه دی
مرډی یی هیڅ ده و زما په بو هـه      که یی په جاه ودولت شوك سیال نه وی

« خوشحال ختك »

اضطراب به دي خلاص نه کاله نصا؛      مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه

« عبدالقادر ختك »

په تاکه راشی خاد ته لو یه      تسپیته تسلیم صبر ته بو یه
نه به یی دفع په صبرو کړی      نه به لیمکر و به زرا و زو یه

« خوشحالی ختك »

صبرو نیسه په ځکښې که مراد غواړی      هیڅ کړی دغه کار په شتاب ندی

« عبدالرحمن مهمند »

ای حنانه صبر وکړه مراد به مومی      د فلك زر نده په وارده پس پیش

« مرزا حنن »

خلاص به نه شی سرکشان له گوشمالی      چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه

« کاظم خان شیدا »

دانا یی مه گڼه چه صبر نه لری      چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړی د صبر به کار کښې و ازمیه !      چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری

« خوشحال ختك »

صبر نا کو سره جور فلك نه کا      د فلك جور د چا چه سبکسار و

« خوشحال ختك »

ژوندی که گرځی خان یی ژړلی دی      تور زن د سر به ویڼو لړلی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی      ظفر له صبره سره تړلی دی

« خوشحال ختك »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه      اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به

« اشرف خان هجری »

## ۷ــ د وخت اهمیت :

دو باره دي را تله نشته په د نیا هرڅه چار چه تروخت تېره شي عبقاشي تر ورخ تېری او به بېرته نه جار وزی تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی هره نېه چه صحیح گڼه به زړه کښې په عمل د نیکو بدو فهم و کړه هغه

نندي وار دی که دروغ کړی که رښتیا
عبقانه نیلی په دام کښې د هیچا
نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
په غرور به هغه نېه کړی خطا
چه به دا کښې دي بهبود دی که بېدا

« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بې وخته ارمان کا به وخت ویده وی

که د بېره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مې په بېړی ملاح کا

آبشار ره ! و لی دا هسې ژاړ ی !
که تل فریاد کړی به کانې سروهې !

کرل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه کار دنن ورځې پر بېړدی صباته

## ۸ - زړه

شه‌سړی پردی به‌دلاسا په‌نیکی خپل کا

یوزړه دخوشحال ندی چه‌جهان یکښې ایده‌شی

دواړه څکو نه لکه تن دی
زړه یې چون او پېچکو دی

خودې‌زړه خاندی خوله‌دې خندا کا
مدار دهرې چارې په زړه دی

دیاز کډلو اطو ار مشکل دی
.. هم بې ننه گنډل یې هم لا

منبرو سوځه‌په‌اور کښې شراب وڅښه

که هزار ځله تقرې په‌هر آګاری کړې

قلب د دمومن گوره ملقب په‌عرش‌الله‌دی

چه ذرې ژو د نیا نخلو په پروا وی

و گوری واړه کاروانه ځیل کا
خو کله چه آرام گتی د شکو نام گتی

د هغه عالمو ز بری د و شکو دی
« عبدالرحمان مهمند »

په وخت چه نکړی بې وخته څه شی
په ژانکی چه کښېوزی پورې هاله شی
« عبدالقادر ختک »

له چا فریاد کړې خوك پسې غواړی
بیا به را نشی او به نچه لاړ ې
« عبدالقادر ختك »

چه‌وخت بې تېرشی افسوس ار مان لری
هو بیا ز به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال ختك »

کومه ښاغلیاده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال ختك »

دهرچارزړه مر آت دی صفائی ورلره بویه
« خوشحال ختك »

کار د تن جوړوی زړه
خوك دا غمو شه گڼی زړه
« خوشحال ختك »

چه‌زړه دې ژاړی ستر گی ژړا کا
زړه دی مفتی دی هره فتوې کا
« خوشحال ختك »

په دا به پوه شی هر چه عاقل دی
که ز خمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »

در ته وا یم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »

شه‌دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »

زار ذاز ازجونو چه‌دزړه په‌بازار پلوسی
« داليوری حافظ »

تر و که زړه دسړی پوسی څه‌کار
« عبدالرحمن مهمند »

مردان هغه دی چه کار دبل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال ختك »

نه سره سم دي واده مړونه
نه سره سم دي دهر چا زړونه
زړه هم هغه ګڼه چې اکه غرشي
که پاتې دي راشي هزار غمونه
«خوشحال خټک»

مرهم په زړه‌بزده په‌ير هارونه
دا نيا په‌ګل کړي نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منډه
يکښې به خوب کا خوني مارونه
« خوشحال خټک »

زړه دي دهر چا سره صفا وي
په‌چا ګرم مه‌شه که‌دي رضا وي
که‌څوک کړي ناحقه اتا پرخاش کا
اندوه ئې مه‌کړه ظفر به ستاوي
«خوشحال خټک»

په‌بدن کښې دزړه اهميت .

زړه په مثل د پادشاه دي
هر اندام د ده سپا دي
تول د ده فرمان برداردي
دي پادار دوي خدمتګار دي
کل اعضا يې مسخر دي
د ده حکم ته مضطر دي
په فرمان يې خوله ويل کړي
لاس نيول ، ستر ګې کتل کړي
په بدن کښې ګوشت پاره ده
چه څکو چنوتې يې جثه ده
چه وی راست شي راست بدن شي
چه فاسد شي فاسد تن شي
پس چه شو صلاح فساد:
تمامي په زړه بنياد
ته مدام اصلاح دزړه کړه
په هيڅ وخت غفلت مه‌کړه
زړه په مثل ګنجينه ده
د ګوهرو خزينه ده
دېر پکښې دي جواهر
قيمتي نفيس نادر
اول عقل به ګوهر دي
د جمله نعمتو سر دي
بل ګوهر يې معرفت دي
زيات تر نورو په قيمت دي
نور علمو نه حکمتونه
واړه دي اوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده
د ګوهرو ګنجينه ده
پس لازم يې ده ساتنه
له جمله‌ؤ غلو رهزنه
چه دښمن يې تالا نه کا
جواهر يې يغما نه کا
«حبيب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شي نورمژګان په‌نم‌دزړه
نورخراب شي خانمان په دزړه
عبث‌واي غم دزړه وبوالهوس ته
که‌يوهېږي هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندې سواد يار له مخه
ما تړلي دي چشمان محکم دزړه
چه‌يې‌عرش او کرسي لاندې‌تر‌قدم‌دي
بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخليل له کعبې ۱۰ کعبه ده اوچه
که‌آباد کاڅوک ويران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه زدي په مځکه
مادي ايښي په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مځکي‌ترميان‌دي
يو خلوت دي دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غواړم بې‌ياره
چه کړي نشي طبيبان مرهم دزړه
صورتي همدان دېر دي په دنيا کښې
ولې نه مومي رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای دشکر شکایت کړي! / منکر ږېږي په عطا د سبحان و اي!
در ښېلی خدای دهرې چرې توان دی / په ډېر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زړه دنفس په پیروی در ځنه لاړو / د خبیث په لاس دي ورکړو قرآن ولي!
« رحمان »

بنګي شراب سرود کوه عبدالقادره! / خویوه‌کړه آ زړده دمسلمان زړه
«عبدالقادر»

مرده دل دي له ډېره زړه بیرون کا / یو ساعت په کور کښې نه ږېږدي خوګمړي
جمعیت چه لدنیا یه نیا غوا ړی / هغه غړی په معنا د شګو ږړی
«عبدالقادر»

هرخوك چه یو کا زړه خوله خپل دواړه / دو یم په نیت شي ثابت له واره
که کمي ورغی په دین د نیا کښې / تاوان یې واړه وزما په غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یې سائل نکړي / ویره مې کېږي چه یې دبل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی / خپل به پردی کړي پردی یه خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا به کېږي / به کړه دعا ګټه دعا قبلېږي
ازار د هیچا د اخستو نه دي / ښېږې د خوږ و زړو نو لګېږي
« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج دزړه په ویرانه کښې / پر وانلرم د شهر په عسس
«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښې یو وار پسې ولاړ ئي / لکه چېر ته لښکر دروی د سلطان دوست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دي / یا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ
« خواجه محمد بنګښي »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی / چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی / په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یې مه بو له بېحد ه مشرف دی / چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی / چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یې صفت وکړم څه به وکړم / چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بېحد ه عالي شان دی / چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی / چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالي به نیشکر ور سره کاندي / چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خولي په وېل حکم دقاضي دی
چه ظاهر وباطن دواړه پري رو ښان دی
هيڅ اشيا يې لـد فتره بېرو ن نـه دی
زه نبي به يې نـن کم هنر بيـا ن کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه ژبه دی
چـه د ا هـسي بلند لـمر دی هغه ژبه دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه ژبه دی
چه منـبـع د هـر هـنـر دی هغه ژبه دی
« عبدالنبي »

دلجو ئـی به دي تمـام وګړی و کړي

کـه ته هم د د لجو ئي په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مـا نه په ژبه کښې ياد کړه
ژبو به د هر چـا په احسان ښاد کړه .

ـ خو د ي لاس د سې مر و ت د اد کـړه
آز اد بنده کړ ه بند ه آز ا د کـړه
« عبدالقادر خټک »

۹ ـ ژبه

فولا دي تو ره وی که اويه تبه !
دير يې بلا به د ر خخه وا وړ ی

تر دا لا به ه ده بد ګـو يه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټک »

په واك چه نه اری په کـام کښې ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګـنګـك شی ښه دی په لویه تبه
ايمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټک »

خوږه مري ده کـه خو ږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هـنر اـري

چه خو لا پري خپل کـړيژبه صاحبه
چـار به دي تل وی تر سيـا ل غا لبه .
« خوشحال خټک »

که هر خو نېـر يي تـر صحبتو نه
لا به يه ژ بـه ډېـر فهم و کـړ ی

عـلـم اد ب لـر ي فصـا حتـو نـه
د ژ بي ډ ېـر د ی قبـا حتـو نـه
« خوشحال خټک »

ژبه عـا دت کـړه په ښه و يلـو
که يې عـادت کړي په بد ګـوئـی

چه د ي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کـا تر پر د و خپلو
« خوشحال خټک »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه

هغه ژبه چه يکښې تيغ دژبان کښيښي
« پير محمد کـا کړ »

په مجلس کښې دمه رويو خـکه زاری

شمعې هم ځکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله يوپلزی »

هر سـړی چه شی ګـويا لکه قلم

سر به يې شی له تن جـدا لـکـه قلم
« عبدالله يوپلزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلي ژ بي به قفس کـړه
« خوشحال خټک »

روهی ګلمونه (۵۲۵) ب سر دار محمد ح سراج الدين ، ر محمد امين ، ن رجب علی ، ۵ اجرائيه پښتوټولنه ۲۶ - ۱۲ - ۴۲۵ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت کاروان به تېر کړي له رهزنه
که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
« ملاجمعه »

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یې پلو د جمال وانه خیست
پښتو لا هسې بکره پرته ده
«خوشحال خټک»

ژبه به تن کښې څه عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې تحیر کړ ښه پرې خبر شوم
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال خټک»

جنګ دعاني او مزري آسان دي
د خپلې ژبې آفت لا ګران دي
چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه
هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دي
«خوشحال خټک»

که څوک نېکان دي که څوک بدان دي
په دا دنیا کښې چه به هر شان دي
مه یې ستاینه کړه مه یې غندنه
نه به یې څه کړې چه د خپل ځان دي
« خوشحال خټک»

د هوښیارو ژبه پټه وي په زړه کښې
راز به نه وایي اشنا ونا آشنا نه
لېز او ډېر ویل به نکاندې بې ځایه
هیڅ باطل ویل به نه وایي و چانه
«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو
خبري ښې دي ښه تر شکرو
د خوند مثال یې شکري وایم
قدري ډېر دي تر مرغلرو
« عبدالقادر »

لکه و ډې له میدان ګوی داخه ژبه
نه یې شي وډای په تېره کړي شمشیر ګوره
« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړې پرده پوشي کړه
فتنې له خولې پاڅي نو خاموشي کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې
بیخوده پر یوزه باده نوشي کړه
« خوشحال خټک »

سخي یې مه ګڼه چه نغن یې خوار نه وي
پاتوري مه بوله چه پرې پرهار نه وي
که دانشمند وي تفسیر په یاد لولي
چه ډېر ویل کا دي به هوښیار نه وي
« خوشحال خټک »

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر
دانا تل ځکه په خوله دغه خاتم ږدي
« عبدالقادر خټک »

د میرو میره د خانو خانه
د جهانبانو جان او جهانه
دا رنګ لوی به هاله روزي کړي
که وي نیکنیته او نیک زبانه
«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری
سیلاب تش لاس دی سیند لمن پر لری

دسیلاب گېډه دکاڼو ډکه ده
بحر یه گېډه کښی قیمتی در لری

«عبدالقادر ختک»

لهخامی جوش وخروش خېژی لهدېگه
دی له خپلي پختگی پختگان چپ

یه ابو بهدې ډیوه شی دمراد بله
کهصدفغوندي پهصبر کړي دهان چب

چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی
یه گو گل دننه وساته ارمان چپ

دبلبلو ناري ښې نهدی پر گلو
چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگان چپ

لکه کاه او کهربا چه سره بولی
هسي پټهخوله بلل کاندي یاران چپ

«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده!
کهیه ژبه اویزان شي لکه صبح

«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزماني کوه عظیمه!
مه له خولي نهځه وباسه مهځه وایه

«عبدالعظیم رانیزی»

صافدلان له گفتگو یه خفه کېږی
شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت

«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص
چه جهان وایه غلام دی داخلاص

کهله ځمکې نه اسمان تهځاته گران دی
د اسفر یه یوه گام دی داخلاص

چه خبر کا مخلصان له علم غیبه
داهمه وایه الهام دی د اخلاص

در واج د رسم عمر مدام نه وی
لکه عمر چه مدام دی داخلاص

بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته
که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص

څهعجب دی کهمستان وی تري چاپېره
هرساقی څخه چه جام دی د اخلاص

څه عجب دی که همای یه دام نبلی
هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص

درحمان کلام یه داسبب شیرین دی
چهیی هر کلام کلام دی د اخلاص

« عبدالرحمان مهمند »

هرباغی بوزي بنده کاندي اخلاص
هر بی شرم شرمنده کاندي اخلاص

آب وتاب یی عالمگیر لکه افتاب شی
هرجبین چه تابنده کاندي اخلاص

هیڅ پروایی دحیوان یه اوبو نهشی
هغه ژوی چه زنده کاندي اخلاص

هیڅ مقراض یی غوځولی یه خوله نهشی
هرپیوند چه پائنده کاندي اخلاص

هغه کار چه سحر گر کاندي پهسحر
ترهغهیی خوچنده کاندي اخلاص

سند لاسه زوړ کافر دلو کا او
واسلام ته خواهنده کا ندي اخلاص

دنفاق له اهله ځان ژغوره حمیده!
پهلباس بهدي گنده کاندي اخلاص

« عبدالحمید مهمند »

هر باغی او هر سرشوخه هر بی شرمه ... همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکي نوم به عالمګیر لکه افتاب شي ... مغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
دنفاق دشپي تیاره به رڼاورځ کا ... چه سحرغوندي خنده کاندي اخلاص
که بي پښو لره راشي ملامت یم ... که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدین کاکړ »

## ۱۱ ـ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه راز یه ... هوښیار په څه یی و ماته وایه!
هرچه هوښیار دی هنر یی دادی ... خبره نه کا چاته بی ځایه

« خوشحال خټك »

دباد شاهانو به راز خبر مه شه ... که پری خبرشي ځان ته غاورمه شه
رازیی دزړه په صندوق کښیږده ساته ... په ښکاره رول یی چاته لر برمه شه

« خوشحال خټك »

که چاته وکړي دزړه خبره ... تا کښد پري و کړي چه وبی نغره
که دي خپل ځوی وی ګمان پري مکړه ... چه به یی نه کا چاته ظاهره

« خوشحال خټك »

که پیدایه زرکي نه وښکي آواز ... نه صبا د ځنې خبرو ، نه شهباز
سکه له دي خبرپه هسي معلوم یږي ... چه خپل صوت دی هر سري له غماز
دمنصور وحال ته ګوره حال ئي څه شو ... خدای دي فاش دهیچا نه کاندي پټ راز
دریغه دریغه که وروستی عقل دومبی وای ... دانجام خبري نه شی په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه ئي ... دا دشعر دی رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتي دیار له حقیقته ... څوك دیار خبري کاندي واغیارته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت دښکلیو عام په وخت دخط شي ... کم فوت سړی له هرچا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای په ځای به ستا دمال حساب کاوه شي ... خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدورته

«عبدالعظیم رانیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی ... به دانائی به یی د کار اغاز وی
نادان به هیچری به داخبر نه وی ... په هرهر کاربه یی پیځایه راز وی

« خوشحال ختك »

زړه پیځایه مه را باسه و بازار ته ... وایه نشی په کوڅو دخلوت راز

«عبدالله یوبلزی»

منصوز راز ظاهر او سوئی ته وخوت ... د خلا خبري کله په ملا شی ؟

« دالپوری حافظ »

## ۱۲ – زر :

اوس په دا دور ماولیدل خوازه دی　　تر پدر تر برا در تر پسر زر
نورو چار وو ته څه گوري دا گوره　　چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
څه سکه څه چه د آسمان ښایست په زر دی　　ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی　　دهندو سره روان کا لښکر زر
زور، قوت، حرمت هوري درومی چه زروی　　د پادشاه په سر څوك کښېږدی افسر زر
هر مراد چه د سړی وی په دنیا کښې　　د طلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختك»

په خالی کیسه به نرسی تر کامه　　څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال ختك»

که هر څومشکل کارونه در ته پیښ شی　　فکر مه کړه چه آسان به په زر نشی
ماچه ولیده خوازه دی په دنیا کښې　　خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
« خوشحال ختك »

که پښتو یه او ریخ کښې هم ترمیاشتی امر تېری کا　　همه عالم خبر دی چه زر ښه دی له درمه
« خوشحال ختك»

زردی چه ز پرمه دننگ و شرم کا　　صحبت د هرچا و بیله گرم کا
د ډېر گران کارونه په زر آسان شی　　زر په فولاد کښېږدی فولاد هم نرم کا
«خوشحال ختك»

زردي هرچا ته اعجاز معلوم کا　　معدوم موجود کا موجود معدوم کا
وینځه میرمن کا خادم مخدوم کا　　زر په سندان کښېږدی سندان هم موم کا
«خوشحال ختك»

بادشاهان ښه دی په څوانو زر ښندی　　څوانان پري ښه کا چه ور ته سر ښندی
زر سره دواړه تو گو د ډېر گران دی　　یو یوی و ښندی نه یی هر یو ښندی
« خوشحال ختك »

زر به بده ورځ په کار وی　　هوښیار څکه ساتی زر
د زر دار بلا په زرو　　د نادار بلا په سر
چه سړوی گذار په سپر شی　　چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال ختك»

چا و ما ته نصیحت کړ چه زر ښه دی　　تو اول به کا دزرو چه خبر دی
چه به کور کښې خزانې لری دزرو　　هغه کس که یك تنهادی زورور دی
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه وی　　عاقبت ور څخه تار پتار لښکر دی
هر سړی چه په نام لوی په دولت کم وی　　په معنا بدر نگه ښځه سپین خادر دی
په مثال یی دهغې مرغۍ مثال کړه　　چه سینه یی کشاده تن یی لاغر دی
گوره ماده هغه څر نگه خواب ورکړ　　پري به بوه شی هر سړی چه دا نشور دی
ماوې مرد لره څو نام بویه نادانه　　نه دزرو تولول چه بد هنر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هندوخځه انبار انبار مهران وی … په‌مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په‌خره‌باندې‌دزروصندق بار کړی … خر به‌هیڅ پداښه نشی خر خوخردی
چه‌هنر یې دلویې وینویه لاس کښې … دهغه وجود پارس شو واده زردی
«خوشحال خټك»

ځکه‌نوم یې دزهب وربانديې کیښود … چه‌دباد غوندې هردم کا ګندرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یې نه‌وی … په‌ځان مې ولید څه حال یې نه‌وی
که باز داواده هنر د ښکار لری … ښکار به‌په‌څه کوی چه‌بال یې نه‌وی
«خوشحال خټك»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه ویناکاندې چه‌یې وینه … دخاوند په‌لاس کښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یې اوری … ددرهم خاوندان تلوی په ویادونه
که‌درهم یې ځنی ورك شو شی نتلی … پر نړی یې وی په خړو پېژندونه
که‌بلای سونی(۱)وبولی خلق وایی … داوینا ده ریښتیاینه له ریښتو نه
که‌بې وزلي ووایی رښتیا خبره … نور خووایی دخوسونی‌دی تېرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه … ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کیږی
ده وسله که‌خوك به کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰ھ»

چه‌نیستګاره‌شی که‌ځوی داحمدشاه‌ئی … تر تازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

* * *

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا … آئینه دې‌دخپل‌ځان حال‌دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخپلو پښو لاندې‌ښاخونه … چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه‌نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی … چه‌یې نفس دخپل بدوته لیوال کا
چه‌دبل‌و سرو مال وته هوس کا … تر هغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کا
هم‌هغه به‌یکښې پربولځی دامثل‌دی؛ … چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو په‌خونه پرېښ جنګ‌وقتال شی … چه‌هوس دچا دجنګ و دقتال کا
چه‌له خپلو لاس و پښو شی بېمجاله … له‌غلیم‌سره به‌جنګ‌به کوم مجال کا
په‌پردو مړانه نه کیږی بی خپلو … له‌لحده دااواز جمال‌جلال (۲) کا
چه‌تر خپله حده پښه غزوی وړاندې … زمانه به‌یې جمال غوندې پایمال کا
پردی نجوره هیڅانده خپله کړې … بلکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

(۱) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال ، دوه نومونوته اشارت دی ، «خادم»

### ۱۴ ـ وطن :

دوطن ونې چندن اګر دی      خاوري یې واړه مشک و عنبر دی
که سرای ونورو وته سنګیر دی      کاڼي یې ماڼه واړه سره زره دی
« خوشحال خټک »

درزي لا ګز لري مقراض سوزن لري      بوجمدر ګوتي خو شحال خبرن لري
کوچ یې اسان دی مشکل هیڅ نه دی      غم دیارا نو درد د وطن لري
« خوشحال خټک »

هغه ورځ دهجر غم لره سرا شوم      چه له یاره په ژړا ژړا جدا شوم
ما هله ماتم دځان وکړ په وینو      چه اټک وته مې شا شو په ژړا شوم
اوس په څه دوطن کاڼي بوټي ژاړم      درخصت سلام مې کړی تري جدا شوم
بوناوک مې په دل لک راووړله کوره      زاروجار مې دباغ ونه کړ خطا شوم
په محنت مې بورباض جوړ کړ په دهر      لا مې ګل بوی کړی نه ځني سوا شوم
شین فلک په خندا سور شو له هوسه      چه هوري جبل په مخ زه ورته شا شوم
بوبالو په دکن نشبه چه مې دم کا      ګرفتار په کنج وکاو داژ دها شوم
« اشرف خان هجری »

## دوطن په یاد

ستا دعشق له وینو ډک شول ځیګرونه      ستا په لاره کیږي بائیلي ځلمي سرونه
تاته را شمه زړ ګی زما فارغ شي      بې له تا مې اندېښنې دزړه مارونه
که هر څو مې د دنیا ملکونه ډېر شي      زما هېر نشي داستا ښکلي باغونه
د ډیلي تخت هېروم چه را یاد کړم      زه د خپلې پښتونخوا دغرو سرونه
در قیب دڅوند متاع به تاریتار کړي      چه په تورو پښتنا نه کا ګذارونه
د«فرید»د«حمید»(۱) دور به بیا راشي      چه زه و کاندم په هرلوري تاختونه
که تمامه دنیا یوخوا ته بل خوا یې      زما خوښ دی ستا خالي تش ډګرونه
(احمد شاه بابا)

خـوار غـریب او بېنـوا وای      خه وطنه! ستا په خوا وای
وا ته غواړمه له هنده      چه وطن بسر خه زما وای
خـو ژوندی یمه تر مرګه      هم ماغه آب و هوا وای
مېشته خوښ یم په وطن کښې      نه چه هند واړه زما وای
نه دي هند شي نه دي نوم شي      هما غه بېد بېد یا وای
چېر ها ر کښې کلا شیخ وای      رزق الله او مشغو لا وای
« خواجه رزق الله »

بې وطنه نها پروت یم په غربت کښې      نن له ماسره همدم د صنم غم دی
دهوا داشنا په ستر ګو لیده نشي      که په خوب را ته حاضر شي بس کرم دی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو      سلام بادرا رسوی منت یې تم دی
« اشرف خان هجری »

---

( ۱ ) فرید : شیرشاه سوري ، حمید : سلطان حمید لودین

پښتني جونه دې زلفې باد نه نيسي
چه شمال يې بوی راوړی په رنتمبور (۱) كښې
«اشرف خان هجری»

خو به فخر د کشمير په دوشالو کړي
خو به خيال کړي په اطلسو د فرنګ
«پير محمد كاكړ»

نسيمه ور شه د «سرای» سواد ته
سلام م و کړه په دواړه لاسه
له هغه په افضل آبادته
د رود د پوارو ګل و شمشاد ته
«كاظم خان شيدا»

که ګذر به خير ابادو کړي نسيمه!
په وار وار سلام زما ور ته عرضه کړه
ابا سيند و ته ناره و کړه په زوره
ګوندې وی چه پيامې ستاسې جام روزی شی
چه سرې او به دغره نشته په هند کښې
خدايه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړې
هميشه به په هند نه او سی خوشحاله
يادې ګښت و شی د «سرای» دسيند په سيمه
ور سره زما د لوريه خو تسليمه
و لنډۍ ته و ينا و وايه حليمه!
په ګنګا جمنا به نه وو له قديمه
ترې توبه که واړه ډك وی له نعيمه
داچه اوس ورځنې لرې دی دوه نيمه
عاقبت به عاصی ووزی له جحيمه
«خوشحال خټك»

نورجهان سقر شو به دې سرای دار القرار دی
کله به خوشحال دار القرار لره ور دروی
«خوشحال خټك»

دخوشحال دزړه خوښی نشی بی سرايه
خپل وطن يې په هرچا بانډې کشمير کړ
«خوشحال خټك»

دهواد ياران مې هر زمان يادېږی
چه ئې مخ په خوب کی وينم وياړم
«خوشحال خټك»

ښه په هند کښې چنبا ګل دی
دسرای قدر نور چا نه زده
تر دا ګل د وطن خار ښه
په خوشحال دی ترفر خار ښه
«خوشحال خټك»

درزی لاګ زلری بيا ئی سوزن لری
يو جهدر ګوته ئی خوشحال خبرن لری
کوچ پی آسان دی مشکل هيڅ ندی
غم ديارانو درد دوطن لری
«خوشحال خټك»

۱۵ ـ مسلمانی :

په دا دوه حرفه مسلمانی ده
هرچه نه پسندې په ځان په چا مه پسنده
چه يې اوس به تولولو نه مرېږي
همدا خپل دولت به و کايه تا شنده
«عبدالقادر خټك»

چه نه پسندې په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
همدا ده که ته يې ګورې په صحی مسلمانی
نيکانو سره زيست روزګار په مهر و محبت کړه
بدانو سره زيست روزګار هم بويه لسانی
«خوشحال خټك»

په فتوت به داسلام کړي
د کفار انکر غارت
«دولت لوانی»

---

( ۱ ) رنتمبور ديو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلم نښانه داده کـه یی و یشـي — چـه اول په شریعت دي استوار شي
« مرزا خـان انصاری »

پـه مسلمو کښې خـاصـه مسلم هغـه دی — چـه یې وشـلاوه زنـار ددی د نیـا
« عبدالرحمـان مهمند »

## ۱٦ ـ آزادی :

وهرچاوته چه و گورم فریـاد کـا! — بوزه نه‌یم د جهان دی سیني خوږي
په‌جهان به‌هیڅوك نه‌وی چه آزادوی — ځني‌عشق اندوه‌بنده کره ځني لوږي
عقل وهوښ یی‌وړی وته پیدا کړ — داچیچل‌دادل دیرانـگ دی یادیږي
« خوشحال ختـك »

چه‌سړي شرومیی یې چښم‌په‌وخت‌داوړی — بادشاهی داورنـگ زیب زماه غړ که
« خوشحال ختـك »

دحاتم دسخاوت خبري مـکـړه — لاپه دا کښې هم د طمع نښا نه ده
« خوشحال ختـك »

که‌یی ته‌په منت موځی وایی مخلـه — که‌دچا په‌باغ کښې بوټی د کیمیاوی
« خوشحال ختـك »

دمغل‌منصب‌می پرېښودهسې خوښ‌یم — ا‌کـه‌خلاص داویه بنده بند یوان شي
دانا دره عقیده لـکـه زمـا ده ! — لاعجب که‌بل پیدا هسي افغان شي
دمغل وته‌به‌هسې کـار بنکـاره کړم — چه‌راضی راځني‌روح دفریدخان شي
آزادی تر باد شاهی لاتیري کـا — چه‌بل د حکم لاندی شي زندان شي
« خوشحال ختـك »

چه‌نوکری کـاڅوك ډېر گـنده کـا — سړی ازاد وی خپل ځان بنده کـا
تر آ زا دی نه بهتر هیڅ نشته — چه‌څوك په کور کښې خپله دنده کـا
« خوشحال ختـك »

طمع پلاده اصیل بنده کـا ! — ښه ښه سړی وی دائی گنده کـا
ماډېر لیدلی دی چه‌طمع نـه لـری — په بادشاهانو پوري خنده کـا
« خوشحال ختـك »

لکه ونه مستقیم په خپل مـکـان یم — که‌خزان را باندې را شي که بهار
« رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لري و سـر تـه — لاس په‌سرمشه دهر گـیدی ودرتـه
په‌نظر دهغو خاوره سره زر کـېږی — هرچه نه لری نظر و سیم و زرتـه
بی‌منته جام دزهرو څـکـلی ښه دی — نه هغه چه منت بارشی و کوثرتـه
دیوسف له حاله زده که دغه پسه — وایـه حـال د ز مـانې وبـرا درتـه
دی فلـك وچاته هیڅ بخښلی نه دی — چه یی‌نه دی را پیرودی ځني بېرتـه
که له خدایه دوې خلقووته مخ شي — له فردوسه به‌دې مخ شي و سـقرتـه
همیشه به در په در گـرزی ر ټلی — داستو گـنې ځای په‌بیانه موځی‌چرتـه
ددي سست بدن‌منت په‌رحمان باندې — چه‌له‌خپله دره ټلی نه شي بل درتـه
« عبدالرحمن مهمند »

روهي گڼه : ( ٥٢٥ ) پ سردار محمد ح عبدالمجید ر محمد امین ... ع ٣٦ - ١ - ١٩

زندګی که خوك پوهېږي حضور ده دی
آینده و رفته کله دچا یاد وی
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښي کړم داحق سره دمدحې
نه مې زړه مومي اندوه دده له ذمه

دزلفېنو تور حلقو دي عذار و ېښم
که نسرين دي دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شا کړه وښا دېوو ته ښاد شوم
چه د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم

اوس څه غم نه کړم له غمه بې غم ګرزم
راضي من چه دازل دويش په داد شوم

چه مې طمع ددنيا ور ځني پرې کړه
هغه کس که کيکاوس زه کيقباد شوم

ځان بازيد ولی کاروانه دېږ پيدکا
له شېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم

خدای مې پيا په کښې بندي مکړه ترمرګه
احتياج عظيم زندان وه ترې آزاد شوم

هم پې ځان له غمه خلاص کړه هم نيکنام شو
د پېرمين په وروستني ضرب دفرهاد شوم

بادي بوی عبدالقادره سحر راوړ
شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر خټك »

چه خوښ له ګمه دلګيرله خاره دی
عشق له دو بېنه بې اعتباره دی

نه شکايت کړم لچا ، نه شکر
در دمی اه پاره درمان له پاره دی
« عبدالقادر خټك »

له بېخونده آزادی شوسه دسر وي
د ګنی پخير پېڅو بنده بندي بيا
« عبدالحميد مهمند »

وزی تنري پروت بچېن پوز کی ښه ني .
نه په تخت دپاسه ناست دبل کره

دمنت پولاو دي زهرشه ! کي مومي :
دمحنت سوی مکړك له سا کټ سره
« عبدالحميد مهمند »

تخت وتاج ته به سر کوز د همت نه کا
چه په داد ددهر بوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقير دولت به مرګه هسې هوس کا
لکه سپړی مسافر وخپل وطن ته

زېنار حلت په هسې ساعت ور کړه
چه دنيا وريانې نه وی و کفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېري
لاس له کار وباره وباسه که کار کړي
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزاده وی ترې قربان شه
باد شاه ندشام دروم که دختن وی

ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی
چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر خټك »

١٧ _ انسانيت :

پوي اصل سره دوه او يامنډ هبه
خدايه خه بني آدم فريق فرېنشتو
« خوشحال خټك »

خلق ناديده دي په خبر و پسې تللي          چار تر عار فانو چه په حال دي پوهيدلي
دوه او يا مذهبه پکښې هومره قيل وقال          واړه سر هوا په خپل مطلب پسې دي تللي
ډېر دي کتابونه مشتمل په دېرش حرفونه          کل واړه که ګوري له الفه دي ځوولي
سل بېهي سل سيبه چه يې مات په يوه ځای کړي          سل به بلل نه شي سره يو دي ماليدلي
واړه نور ثمر دي هم دننه هم دباندې          هر چېر ته دا نور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال خټک يم در ندانو په مذهب کښې          نور ويل مې نه زده مختصر مې دي ويلي
« خوشحال خټک »

ب : باپېزه خويونه

١ ـ بدعادات :

عادت لاړ شي عادت له سره نه          خدای دې نه کاندي په بدو چار عادت خوک
« عبدالرحمان مهمند »
همېشه وي نرم چوب غذا د کرم          شيدا مشه مرد خالي له سياسته
« کاظم خان شيدا »
تېر ګي په سوزي دخس له نامردانو          که همه لکه ايري آتش نسب وي
« کاظم خان شيدا »

٢ ـ بې پته خويونه :

پو چه ډېر خوري سوګندونه          بل چه ډېر کاندي پور رونو
آشنائي ور سره کم کړه          دا بې پته دي خويونه
« خوشحال خټک »

٣ ـ کوزتيا :

تر هر څه بد کجئي خطر دي !          کجي به نه کا چه دانشور دي
الف چه سم شي، کجي پسې نشته          ځکه تر نورو حروفو سر دي
« عبدالقادر خټک »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادي کښې مراد غواړي          دا سبب ګڼه د خپلې نامرادي
« عبدالحميد مهمند »

٥ ـ بدګوئي :

چواړې د حلال خور په نامه بولي          له شو خلقو بد ګوئي نه ده ممکنه
ته چه بد له خلقو وائې زه و پرهېزم          چېر ي خپله بدي نکړي معينه
له هغو نه به دومبي ستا عيب څرګند شي          چه هر چا و ته دي کړېده خنده
« عبدالرحمان مهمند »
مه پرچا غيبت تهمت وا په مه نېلمه          مه د بد نامه په هيڅ بني آدم زده
« دولت لواني »

٦ ــ بې کاری :

د جمله بلاؤ سرتن اسانی ده
فراغت د بې غمۍ په ملک کښې شته

لټ غوبې شي خرڅاوه په قصابونو
څه امید د بې غمۍ کړي طالبانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ــ ډېر احتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږي
زه له ډېرې هوښیارۍ لېونی شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ــ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی
چه کلمه د اشي کمه هغه شي

یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
دا نا ته کلمه مذبذبین ښه دی
« خوشحال خټک »

٩ ــ شخصیات :

دزره غلا په زړه کښې غم ده
هر سر دار چه په زړه غل شي

لا به تېر ه د سر دار
ځان رسوا کا خلق خوار
« خوشحال خټک »

١٠ ــ ظلم :

باز چه وینې د ځیگر خوري مرگ یې زروي
که تر خه دی هم شراب د قهر نغره

له دې وینو ځان ساته زما ځیگره !
ظلم وجور په چا مه کړه ځیگر وره
« عبدالقادر خټک »

چه بېهوشي ډېره گېره یې نر بېلی
ماشي مرکاندي هاتي چه سره تول شي
لنړي لنړي او به تولې شي ملک وران کا

ډېر په ظلم کښې څوک مه کوه گېبر گوره
په یوه وجود یې کې مه گېره ډېر گوره
په لږ جبر چېرې نه شي دلبر گوره
« عبدالحمید مهمند »

باز کرگس شاهین چه دي تري په هوا شول
بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانگی

چه ثابت د عندلیب شو په گلعذار حق
خدای کړي پورته ادي باغه د مالدار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دې نکا چاته وازی د آزار خولې
په کړ کښې بخته برج هسې میدان کړی
د یوې خولې له آواره وو پېر په ښزه
چه پېرې راشی د مظلوم د آه سېلی
چه قوصر د آه سر دور باندی لگی
چه اثر د مسیحا لري یه دم کښې
ورځ به شي د غم شپه په هغه خلقو

دغه خولې ده په آزار کښې دښا مار خولې
یا توبو بدی خولی دی یا دو یاد خولې
که په هر دي دعا کا نه دي هزار خولې
کاله خاورو اېرو ډکی د مدار خولې
ور به نشي د هغه چا د پېر هار خولې
خوږ وی دي هغه خلق په گفتار خولې
چه پیاب بی بد دعا که هر سحار خولې
« عبدالحمید مهمند »

چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
چه نهال د ظلم کېږدی څنی لاړ شی
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !

هسی خوبں د ظالمی په کار ولاړ دی

ر سپد لی تر مطلبه به خود نه یی

په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
تریخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »
نه به وایی مرګ یی نشته تل به ژوی
« خوشحال خټك »
چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله یوبلزی »

## ۱۱ قهر :

ما نی مه کوه حنا نه صبر بو په

همېشه غوته جبین یی ږك له کینه

د جهان کینی غصي واړه تر شا کا
دا پیدا چه خو د بینی ور څخه نشته
په کینه په حسد هېڅ د چا و نشی

جوړ کارونه خشموران کاندي تلوار هم
« مرزا حنان »
له خپلواو کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »
که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
د جهان ننداري څکه دوه اپمه کا
هر سړی چه حسد کاندی ځان اوبه کا
« خوشحال خټك »

## ۱۲ ــ تعجیل :

دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا

په هنر هنر خبري کړه دلبره

په تعجیل سره نادان کاندي هم کار کج
« عبدالقادر خټك »
تېزی مه کوه په هېڅ کار کښې د سره
« عبدالله یوبزی »

## ۱۳ ــ حرص :

په غم د نورو و غم نه ساز مه شي
سړی په طمعه د بل بند ه شی

سیك و عالم نه به خپل آو از مه شي
د عا به دا کړم اخته په آز مه شي
« خوشحال خټك »

## ۱٤ ــ کبر غرور :

دغه زور په چلوي تر کو مه بوري
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را یی

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
سېره ! هېڅ په تیټو و نو لو یی مکړه

چه پوازي دي په ځان تمام جهان خوړ
ما دا ستا دبر پواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »
په پسلیتو اوبو نه کېږي او د س
ستا به هم دغه قامت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر خټك »

## ۱۵ ــ بیوفائي :

چه یې نه وینې وفا به رنګ وبوی کښې
زر که ځلیږي مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه
تو به وکا زه له یاره د بیوفا
« مرزا حنان »

که یې اوی دزړه به وینو لکه ګل کړې
هم هغه به یه زړه در کاندې شنه تا نده
« عبدالقادر خټك »

## ۱٦ ــ طمع :

څوك چه طمع له چا کا به حقیقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال خټك »

نه دی نفس لره جلب د ورکړو لو
امو خته در باندې غل او کا سیر مشه
نور قیدونه و اته سهل دی حمیده !
خو به غاړه دې د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتې
چه په خوله کاندې خوږه حلو اد طمع
« عبدالحمید مهمند »

سړی توب به دې سپېتوب کاندې دا طمع
عزت و سا ته به صبر که د انا یسې
هسې چارې به حرص در باندې و کا
چه په هیڅ شوې نه وی بیا به وا یسې
« عبدالحمید مهمند »

کهدې زده وی چه بلای شي طمعه برېږده !
څو دې طمعه چاته شته توانګر نه یسې
« عبدالقادر خټك »

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
یاس له مخلوقه د حق انعام دی
اصیل بنده کا خلاص شوی بند کا
طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر خټك »

شرموی هر یو سړی د دنیا طمع
د بې توب نامه حاصل کا به دا طمع
همت ناك سړې که خوار وی دولتمن دی
خاشاکي ګوره نه کوی له دریا طمع
د هغه د شرم بو زه به مخ نه وی
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
لکه څوك لوبي به خپله حیا کا ندې
هسې ما و ته شیکار پرېږدی دا ستا طمع
لکه یو سپي چه هیڅ ختي ستل هغسې
هسې ده د یو له بل نا صلا طمع
د هغو د عزت پښه د ه بښو نږدې اسې
چه به دا زړه له چا کا ندې بیا طمع
تل دخواست لاس به یې نیولی دی کوڅه کښې
محمدي چه څوك کا بل ته پیدا طمع
د حاتم د سخاوت خبرې مه مکړه
لا پیدا کښې هم د طمعې نشانی ده
« خوشحال خټك »

## ۱۷ ــ ریا :

دریا عمل مې طوق شو را تر غاړه
لکه خیور شی به ځیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ ـ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه    تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومی
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا    شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی

« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا همه له نا پوهی پیدا کیږی    خرخشي دعوي ناساري شر و شور
پېر څو ، ښه سلوك ، نمانځنه ، اوبل عدل    کېدي دا خویو نه شته څه غواړي نور
کبر جن حریص بی زړه چه دروغ وایی    د یاری لایق نه دی دا څلور
که وعده یې قیامت وی د غو ښتنې    دهو ښیار سړی به نه وی په کار پور
که طالع یې د دولت په شربت ډك کا    بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور

«خوشحال خټك»

چه د خلقو نیکخواهی لری په زړه کښې    مبارك شه بادشاهی لری به زړه کښې
که یې غوږ د دانشمند په صیحت وی    څه عجبه آگاهی لری به زړه کښې
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی    هر سړی چه تباهی لری به زړه کښې
د مردانو په معراج به ور تلی نشی    که دسعی کوتاهی لری به زړه کښې
مختورن د دواړو کونو ندی څه دی    چه هر چاسره سپاهی لری به زړه کښې
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو    گمراهان به گمراهی لری به زړه کښې
په هغه هنر کښې تینگ او سه خوشحاله    هر هنر چه سپاهی لری به زړه کښې

«خوشحال خټك»

په دوستانو تلطف کړه خو په تماشی    د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
د نمانځه تر قضا گران دا قضا ده    چه قضا شی د څلور و مصلحت
نوراني کا هغه ځای چه سره کښېني    دېرینه څلور هو ښیار په مشورت
چه په تشه تواضع کښې گټه کیږی    هومره سود نشته دډك طباخ دست
که حاتم غوندي کرم کړي د مهرانو    دیوي دمړی به چا مه زده منت
خو بداو سره بدشی هومره ښه دي    ولې عفوه کرم ډېر لری لذت
که دي سرلځی کېدي مال ځی کېدي نور څه    استو ار اوسه په کار د رفاقت
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه    هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه    بې محنته هیڅوك نه مومی را حت
که دارو به خواست موندل شی مه یې آخله    که دمرگ وته نژدې کاندي زحمت
که آسمان دي دزمري په خوله کښې ور کا    دزمري په خوله کښې مه پرهیزده همت
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې    چه یادیږی د سړی د خوی خصلت

«خوشحال خټك»

خپل استاد و ماته ووې څو پندونه    هر یو پندی مرغلري دی لا لونه !
وې چه هره بدی کړه هغه بد مکړه    چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
که دي زړه وی چه بدنه موي له چانه    اول ته پرهېز ده د بدو خصلتو نه

د شهوت په غوته مه څه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیڅا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
د هر چا سره نری ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر ګوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په ارمی تر سره کښیږی!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو په مرګ ثواب ګڼلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پرې یې مږده
په خپلوانو باندې هومره خشم مه کړه!
د پاد شاه په مهربانیه غلط مه شه!
پاد شاهان چه په چا مخ کا د بدی
په هغې معشوقی څه باور د کړو دی
د ښېلي یانې خوره نه هغه پا ستی
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښې چه در پېښ شی بیړه مکړه
په رښتیا که په دروغ وی سوګند مه خوره
د حرص سترګې مړې په قناعت کړه
که هر څو دي علم ډیر چه عمل نه کړې
د ښه دین دپاره علم، دانش ښه دی
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړې قباحت دی
عاقبت به ملګیری در ځني بریکا
که دې وروروی که دې ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران ته یې حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چرګه بانګ کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دې زړه له وینو ډك شی و د ښمن ته

پیدا اور د ډېرو سوی دی ګورونه .
د ازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
ټل جهان و چاته نه پرېږدی مالونه
ګنډي وی چه پداخیل کړي د چاز ډونه
د بخچی دننه ښه دی خپل ر ختونه
چه په باغ کښې دې خرتیزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنګونه
چه اری د بدو فعل بد خو یونه!
چه پای سوځی له شامته غاډي غرونه
په یوه شجري و سوځی ښا رونه
د رستم غوندې هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ورمونه
دما رانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځنی تښتی په ملکونه!
زورور په لږ ګناه و هی سرونه!
و سپینډو نوته تړل نه شی بندونه!
چه په هر لوری یاران لری زر ګونه
چه بې خوري د نو کری په خوشرطونه
غلیمان ور لره بس دی خپل خویونه
د ګډ پر؛ ونه خوازه لری ګلونه
په تلوار، سره ورانیږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډیر خوری سوګندونه
چه په کور کښې دې انبار شی نعمتونه
ته حمار یې په تا ابنلی کتابونه
نه پیدا چه پری لوټې پردی ګورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
د بدانو خو هم نور ښه وی مخونه
چه په لاري ترتا تیر د رومی ستاملونه
په څیړوی کاږه کړه ور میږونه
د هغو د نا ستی تښته په کرو هونه!
بیا هغه چه دې په ځای وی لکه ترونه
د هغو خونو نه ځی بر کتونه
مه عمل کوه په رسن په دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندې خرڅونه!
انږو ډیر په زبان مه راوړه غمونه

به هر کار به‌دې لاس بروي په ځوانۍ کښې    که طاعت که عبادت که نور کاروونه
په ځوانۍ کښې چه د کار نه لاسه ووزي    په پیرۍ به دې ونه رسي لاسونه
همیشه او سه خو له پښه لکه ناوې    چه ضرور شي هاله وکړه دوه حرفونه
تر هغه به نا معقول په جهان څوک وي    چه همیش په خندا سپین اوري غاښونه
که خبره که خندا کړي ځکې ځکې !    هره چار تر حساب مه کوه بېرونه
که دې زړه وي چه بې عیب دې ښکاره نه شي    چا ته مه شماره د خلقو بې عیبونه
که له تا نه په قوت د مېو زیات وي    له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
چه توانیږي د هغې خبرې لاف کړه    او که نه په دروغو مه وهه لافونه
چه د ښمنو کښې د جنګو خرخشې وي    ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دې واوریدل چه بیا وپله روغ شول    نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو نه بتر دی هغه څوک دی !    چه د ښځو سره کا مصلحتونه !
خدای هغه په دواړه کونه دې نمانځلی    چه په ورځ کا عدل وداد په شپه نمځونه
چه د زړه په تامین د هغو نازونه    تل نیاز منو سره وړي دی نیاز و نه
د اصیل ښوه خپل اصل نه ابا س دی    په زربافو کښې پادم وي پامري و نه

« خوشحال خټک »

په پیری کښې چه هوس دی د ناب کړي    بېهوده ګمان په صبح د مهتاب کړي
د استه ګناه کوي توبه و کاږي    لکه بت هسې په غټو سترګو خواب کړي
علم وکړي بې عامل ور باندې نه کړي    لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي
په شپه بې پروت بې د مغان په میخانه کښې    او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي
له خالقه دې نه شرم نه حجاب وي    له رحمان ګوښه و نیسي حجاب کړي

عبدالرحمان مهمند »

کرد ګلو کړه چه سیمه د ګلزار شي    اغزي مه کړه په پښو کښې به دې لاړ شي
ته چه بل په غشو ولې هسې بوه شه    چه هم داغشی به ستا په لور ګذار شي
کوهی مه کنه د بل سړي په لار کښې    چیرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ته چه هر چا ته بخوار و ستر ګو ګوري    لاړه مه بې به ستا صورت تر خاور وخوار شي
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی    هر چه بل آزار وی هغه آزار شي
که ته نه کوي نظر د چا و عیب ته    هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي
د مقتان کړیه لوړه مځکه باندې مه کا    سر کوزی کوه چه پښ دې مرغزار شي
د مات لوښی او از کله ثابت خپږي    د هر چا عمل خر ګند په خپل ګفتار شي
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره    حق باطل سره جدا کړه معنی نغاره
مدا ماچه لکه باز غوښې د قام خوري    عاقبت به شې بندی په پښو په غاړه
چوړ وی نوی قصر ونه خبر نه شې    تن صبا دی ابادی و ینم ویجاړه
فکر وکړه وخت کو تاه دی وړ لو یږي    د دنیا پر لاندې پاڼې باندې ولاړه !

« د مرزا حنان »

نن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا　　ننا گهاننه به دا صبح شب تار شی
لنږه ئي مه کړه هر څو که گناه لنږوی　　چه لنږ لنږ و سره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا نه دی ته ښه ورسره وکړه　　هر یو نخل چه میوه لری سنگسار شی
تل و ښو و ته آزار د بدو رسی　　هر چنجی و نرم چوب و ته دو څار شی
هغه زده به له طوفانه په امان شی　　چه کشتی غونډی د خلقو بار بردار شی
خدای دې بدله لاسه نه کا او که وی هم　　در حمان دې له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا داره　　نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مه ږده پر عاجز مینږی په ظلم　　نه چه دغه پښه دی و مبتلی له ماره
هر چه وړی صباح بې راوړی لنږ که ډیروی　　دا چه نن یې پستم اخلی له خواره
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی　　چه رانده په دا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرز ندی بې بخته!　　که دې مال که دی فرزند دی نا بکار ه
دا جل صیاد طلب د استاد روح کا　　ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښ　　دی بهتر له هغه گنجه بې شمار ه
« مرزا حنان »

ډیر به ستا په سبب خواب دراحت وکا　　که دمهد په شان ورك دخان ارام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه　　اسا نه نده د سر بند نه
مصلحت مه پر ږده د خیله لاسه　　هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خو شحال ختك »

همیشه وائي چه خدای مې پیبنږ ندلی په یکی دی　　که دی خدای وی پیبنږ ندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه گل شی　　زمانه به دی څېره په یوځو ورځې کا زائله
« خو شحال ختك »

د چا وخوان ته خالی کتل مکړه　　که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور څی هسی و یل مکړه　　چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال ختك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا　　یا طبیب و تا ته بدی کا شکر ي
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي　　له شکرو به هم گرزي اري لري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی　　ته یې وای لکه یې دمور نغري !
« خوشحال ختك »

عاقبت به یې زده ترلاسه کړي حنانه!　　لکه زلفي دنگار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځان ژغوری بربنده تېرو تورو   هسې ځېل سرله بېړو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی   په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا   سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر ختك »

له همه واړه عالمه صلح کل شه   وښوېدو خوشبویې ور که گل شه

تعلق په تېرېد و نی هوس مکړه   په بهار کښې په نارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر ختك »

څوك چه نرم وېل کا عمل یې گوره   ټګان دم په خوله وېل کا نرم نرم

« خوشحال ختك »

ښتن مو مل دی   اوس مو پسر غل دی   هواد د بل دی

غازیانو گوری،   ښتن مومل دی

توري تېري کړی،   د ښن مو پرېکړی،   منگلی سري کړی،

خله به تښتو   ښتن مومل دی

که ټینګه کړو زړونه   بر برى یو نه   چه زمری یو نه

اسلام راځخه دی   ښتن مومل دی

غازیانو راشی،   تول شاؤ خوا شی   دشهاب په ملا شی،

دښن موغوخ کی،   ښتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشبن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی . »

---

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱ـ میړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار   خو پیدا نه کړي کردار
چه دي و ښکنځي مرد نه یي   که له تا نه وي بېدار
چه څه دي خو انتقام دي   د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لرینه   چه نه عیب وي نه یي عار
چه عزت ور څخه نه وي   هغه مرد نه وي په کار
هم مهره لري هم زهر   ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي   تر هغو ځوانانو جار
مرد به غم دخپل ننګ کا   نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم   د عزت د اعتبار
نا مرد فخر په نسبت کا   مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبرې گوره   لعل و در پېیي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه   چه یا د پېغلې په پېډ لو په سندرو
د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي   چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو   په نامرد، شرم آسانډی په مرد گران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي   که د سروېره دی نه شي کار آسان دی
کاشکي تـه پـه دا دنیا همیشه پا یې   په احتیاط احتیاط کښې د ډېر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخوامي ډېر دی   ما په خدای باندې سپارلي ځان ایمان دی
ننګیالي چه د اخلاص توره په لاس کا   ډېر لښکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریک دي اولسونه   غم یوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مو ر دی نه شي با ندې بو ره   چه مېړ و نه د کار ز ار دی
څوک چه شته تر شر قـه غـر پـه   د تور زنو خـد مـتـګـار دی

«خوشحال خټک»

د رست پښتون تر قند هاره تر اټکه   سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسي وخت، چه وخت د نام و ننګ دی   دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دی   بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دی   که پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

میړنو له تښتنه شرم دی یو نسه !    د نصیب له پیښې ماڼوه جلب
«یونس»

څه سړی څه یې تدبیر !    هم هغه شي چه تقدیر
که جهان شي تیر و توره    ستا به مرګ شي خلق خیر
بې تقدیره به و نه مري    نه په توره نه په تیر
بې اجله مرګي نشته    تیغ و هسه مکر و تقصیر
لکه کار د مړني دی    هسې کار نه دی د پیر
د غازیانو شهیدانو    پر وا نشته د سمبیر
کل ګتنه ده د توري    که کابل دی که کشمیر
مړني دي چه یا د ښځي    په سنګر و هم په ویر
چه په دروغ د توري لاف کا    د هغو نه یم د لګیر
توره نجره د خوشحال ده    کال په کال خلق خبیر
تر اوو پښتو پوري    واده مړه په تیغ و تیر
دا د ځان ستاینه نه ده    حقیقت وایم په تحبیر
«خوشحال ختک»

چه په توره یې ځواب ورکړی مردیده    که وجود دی خوك آزار کاندی په چوب
«خوشحال ختک»

چه مین په وسله نه وی    مرد دی نه وائی خپل ځان ته
لاس دی سره کا ستر ګې توری    ځان دی و جوړ وی ځوان ته
«خوشحال ختک»

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای    ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځ کښې    نقل د تورو و خت د شباب وای
«خوشحال ختک»

د زنانو په حساب دی مردان مشه    چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
شړی ور پښتون به سل په د که یوسی    کشمیری چه بفرګ شالونه یې په دوش وی
«خوشحال ختک»

د بلا ته د اختیار توره په لاس کښې    وقضا و ته تسلیم په شان دمړه یم
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی    په سپین زړه که د باران سپینې اوبه یم
«خوشحال ختک»

چه جنګیالی وی دولت هغه مومی    چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
دا د واده تو کسی سره تړلی دی    خوك چه محنت کا راحت هغه مومی
«خوشحال ختک»

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی    چه بی ننګی واخلی دلبر هغه مومی
دا کا رمې خوځله به ځان را غلی    له سر چه تېر شی ظفر هغه مومی
«خوشحال ختک»

ستا رقیب کله زما په مخ را تلای شي

چه زړی شي میاشت آخره شپه را خیږي
ښې ورښتني جامې خوی دار تینو دي
له یارانو اخلاص تللی دی حنا نه!

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه
له میدانه تښته کاردي د زنانو
چه د تورو په بر ښنا یې وار خطا شي
د ضرور په ورځ به تښته له ګیدړ کا
د عزت صدقه سر د سر د نیا ده

دمړو و جنګ ته نه د رومي غورځي
« مرزا حنان »

پتوه ځان له عالمه په افلاس کښي
دمیړه مړانه نه ځي په کرباس کښي
ګذران د زماني شو په لباس کښي
«میرزا حنان»

یا تې هیڅ نشي باقي له نام و ننګه
مر د به نه تښتي له غشي له تـفنګه
مور یې مه وای په هغه غولاتې انګه
چه همېش کاندي خوښي له ناي وچنګه
مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه
«یونس»

## ملي وحدت

تو له یو دي که غلجی که ابدالي دي
چه عمل یې د نیکۍ وی مېړه هغه

ښه هغه چه یې ښېښه د زړه صفا ده
که اغوستې یې ګډ له د خامتا ده
«احمد شاه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کاننګیالي دي ورته اینبی دي دوه کاره
یا کام د ننګ حاصل کا یا ددوی مینه سپېرېږي
«خوشحال ختك»

چه د ننګ په چارو نر ندي خوشحال له !
که یې نر وینې په ستر ګو هم ماده دي
«خوشحال ختك»

کاشکي ځوان دې پښتانه په ننګ کښي مړوي
چه دقام به ننګ کښي و مړ هغه ځو یه
نه چه ګور لره روان شوم له تلتکـه
په عالم کښي دخیل پلار غاړه کا لکه
«خوشحال ختك»

څه یو ازې ننګ به ما را غلی نه دي
چه ښور وا خوري دمغلو واده سپي دي
ګور به هم په ژړا سر کړم که یې ور ودم
پښتانه د پر دی په غرو نه په سمو نه
د سګانو به خو له څه اخلم نو مو نه
زه خوشحال د زړه دا هومره المو نه
« خوشحال ختك »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشي
و به نه ساتی خوك خپل ننګ و ناموس
« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شي
د ګلر خو په هوس شپې ر نـو مه
تلخ ویل پر رقیب شو ځکوي وما ته
په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
امو خته لکه شبنم په د اشبخون یم
آخر زه شمس الدین ننګی ارم پښتون یم
«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وا نخلی له غلیمه انتقام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته

مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه آرام
د هغه سری به نه وی احترام
« خوشحال خټک »

نام وننګ افغانی مې ولاړ بر هم شو

انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوپلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځی

حال یې ورخ په ورخ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره

یا به وخوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټک »

ننګیالی د ننګ د یاره
سر به باد د سری پر هوره
چه په نام و ننګ اډ نه وی
د جهان بلا دې کل وی

په هر خه لګوی اور
چه یې نه وی ژو ندون نور
که تل ژوی مخ ئی تور
خو دې نه وی ویی (١) سپور
« خوشحال خټک »

سر په دار لاړ شوی ښه دی
نه لاړ شوی په پیغور

٣ ــ ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بدلولی

ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه!

وا به نودم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیا ناوې به بیا په نکاح نکړم

که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما خه یې اعتقاد دغه عقیده ده

چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه
چه یوی ژبه وی بل وه خبره

په ده به نه شی در غلیمه سمه
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټک »

٤ ــ بنه خوانی :

جار شم قربان شم دپلار له پنده
لذت دور کړی تر ساتل ډیر دی

را ته یې ووې زما فرزنده !
خوی خیر ندی ممسك له خونده
« عبدالقادر خټک »

دلو یې به مقام به هاله کښېنې

که د ور کړې دمراني به وزرخې
«عبدالقادر خټک»

---

(١) ویی : لفظ ، کلمه .

د خپل ځان د یاره یم درم اسراف دی　　چه په بل خونه ښندې بې اسرافی ده

« عبدالقادر ختک »

تو اول کېږول دزرو ښځې کاندي　　ور کول بازل بې خوی خصلت د نرو

« عبدالقادر ختک »

چه شجاعت کا دنیا به کف لري　　نوم به د ښکو په هر طرف لري

هر چه حاصل کا دا د واړه خوی ـه　　هغه میراث دشاه نجف لري

« عبدالقادر ختک »

که ځوا نمردی بل آزار مکړه په گلو　　ځان د ښو د بدو تیرو ته کړه هدف

« عبدالقادر ختک »

چه کېتل خورول بخښل کا ځوان هغه　　چه تو ره لري د توري خان هغه

کان دلعل و دیا قوت و گوهر څه دی　　چه احسان ترې پیدا کیږي کان هغه

چه نې ته په گېره وخورې حیطه شي　　د مجلس سره چه خوړ شي خوان هغه

که د مال دی که د ملك دی که د لېچو　　چه نې توان د چا یکار شي توان هغه

په تما مه شپه به ورځې مباشتی کال کښې　　چه د خدای په یادو در ومی آن هغه

چه د خوك دوړ اندی روستو ځی داخه شي　　په تنها وجود چه شان شي شان هغه

و نور چاوته وران مه وایه خو شحاله !　　چه قول عهد وران شو وران هغه

« خوشحال خان ختك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جهان　　غگ نې تللی د د وږی دی تږیونان

هسې شه مهما ن نوا زه خلك نشته　　لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان

که بهر در ته مرزی شی خوبه کور کښې　　له ادبه ځان میر نې کړی تابه خان

د هر چا ځای له چه ور شي بې تکلیفه　　کټ بوزی در ته تیار وی آش و نان

« میر احمد شاه رضوانی »

## ٥ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را غلم　　ماد هسې د ماغ سر ندی را وړی

له اصلی فو لا ده هله تیغ ر غیږ ی　　په وار وارچه ځنې لاړ شی و سنپخړی

« خوشحال ختك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم　　خوار هغه چه نې له ما سره آهنگ دی

هر ملخی دسر بازی هنر څه زده　　چه په دا هنر کښې سر ښندی پتنگ دی

لا تر او سه نې ماغزه په قرار ندی　　چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی

د گیندیو په ځیگر کښې نې گولی دی　　که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی

لا په خوب کښې به لرزه پر یوزی له کټه　　چه دچا ترغوز زما د توری شرنگ دی

که په دا د رومی گو رې هغه زه یم　　چه مې داغ په خاطر ایښی داورنگ دی

در ست جهان می و مغل و ته خیر کړ　　ځای په ځای نې پښتانه وته قلنگ دی

ځنې څه اوبه دعوی لرم په زده کښې　　ولې څه کړم چه پښتون وا ړه بې ننگ دی

خو طالع را سره هسي مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه

گڼه تېر تر فرېدونه مې فرهنگ دی
که په تخت دیاڅه کښېنی هم ملنگ دی
« خوشحال خټك »

چه زما د در وېزې په کچکول کې خیر شي

دحاتم پهزړه به سهم د سوال پرېووت
« عبد الحمید مهمند »

هسې رنگه له دې ځا ئه تنها خوښ یم
تر هغه چه خشك طینت د صحرا و یمه
چه شاړ ه بې له اقلیم و زی مگس شی
چه په شان د آفتاب نده گرم رو یه
چه په قید یې د قفس کړم لکه زر که
که پیدا ر لکه تصو یر له خوا به نه شو

چه مدام لکه وحشی په صحرا خو ښ یم
لکه موج اوار ه په دریا خو ښ یم
کله زه د هغه خو ان په صلا خو ښ یم
ستا په سر که په سا یه د هما خو ښ یم
تر دا هسې خندا ز ه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا ! خو ښ یم
« شیدا خټك »

جهان شر م نام و ننگ دی
چه و فاو ر څخه نشته
چه یې عشق تر سر ه کړی
په ښا غلیو جهان ارت دی
چه خو شحال با ندې نا ستی کا

که دا نه وی جهان رنگ دی
گل به څه کړې چه خوشر نگ دی
نور څو ك نشته خو پتنگ دی
په غو و لیو با ندی تنگ د ی
دا بو زی نه ی او رنگ د ی
« خو شحال خټك »

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو

په خیل دور واړ و ښه تېر کړ خپل وار
ز ه هم نه یم د گیدړو په قطار
« خوشحال خټك »

د ځا تم غوندې مې خیل و حشم نشته
سخاوت مې په تقلید په رسم نه ی
په و گړ ی مې خبر ې د مر دی شته

په عطا کښې له ځا تمه برابر یم
زه له ځا یه د سخې بابا پسر یم
په همت کښې په هر لو ری نامو ر یم
« خو شحال خټك »

هر چه کاندی نوکري د باد شا ها نو

خا مخا به د در با نو منت باروی
« عبدا لرحمان مهمند »

مطیع الله له موره پلا ره هم سوال مکره

سل بلا شر مندگی د ی په سوال کښې
« مطیع ا لله پیر خیل »

در و یز ه له در و یزه گرو نا کسی ده
چه رښتینی سیده صاف نه وی حمید ه !

د فلك کچکو ل ته مه ښه , کچکو ل
بو لی بو لی عا فلا ن دا هسې بو ل
« عبدالحمید مهمند »

هسې فخر شمس الدین کاندی به عشق کښې

لکه فخر کړی پښتو ن په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

دروغ ویل هغه کاچه یې وېره وی یاطمع

خوشحال پهدا لرنهدی حق به وایی خو یی سرشته
« خو شحال خټك »

روږی گڼه (۵۰۲۰) سردار محمد : ج : سراج الدین : ر : محمد امین ن : رجب علی : ه ، اخراجئیه پښتو ټولنه ۲۶-۳-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**